Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized






په افغانستان کې د فقر او بيوزلۍ دحالت تحليلي رپوټ:

# له خطر سره مخامخ پرمختګ

**په افغانســـــتان کې دژوند دحالت پربنســـټ**
**سروې ۲۰۱۴ -۲۰۱۳ او ۲۰۱۲-۲۰۱۱ او د**
**۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ زيانمنني اوملي خطر ارزونه**

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Economy

THE WORLD BANK
IBRD • IDA | WORLD BANK GROUP

THE WORLD BANK
IBRD • IDA | WORLD BANK GROUP

په افغانستان کې د فقر او بیوزلۍ دحالت تحلیلي رپوټ:

# له خطر سره مخامخ پرمختګ

**په افغانستان کې دژوند دحالت پربنسټ**
**سروې ۲۰۱۴ -۲۰۱۳ او ۲۰۱۲-۲۰۱۱ او د**
**۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ زیانمننې اوملي خطر ارزونه**

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Economy

THE WORLD BANK
IBRD • IDA | WORLD BANK GROUP

# دمطالبو لیکلړ

**منننلیک** ........................................................................................ ۴
**سریزه** ........................................................................................ ۵
**دفعالیتونولنډیز** ........................................................................................ ۶
**لومړی څپرکی** ۱۰
**دلیږد (انتقال) پړاو: اقتصادي بهیر ، جګړه او غربت** ........................................... ۱۰
اقتصادي بهیر، مرستې او جګړه ............................................................... ۱۰
دفقر یا غربت او بیوزلی بهیر........................................................................ ۱۳
دبې ځایه کیدنې بهیر او ځانګړنې..................................................................... ۱۶
**دویم څپرکی** ۱۹
**په افغانستان کې دکار کسب او دندو کړکیچ(بحران)** ................................................ ۱۹
په افغانستان کې دکار کسب یا دندې ستونزه او ننګونه.................................................. ۱۹
دکار دبازار بهیر........................................................................................ ۲۳
جګړه، دکار دبازار نتیجې دنفوس لیږد او ځای پرځای کیدنه ......................................... ۲۵
**دریم څپرکی** ۲۹
**د بشري انکشاف او خدمتونو ته د لاس رسی نتیجې: له خطر سره مخامخ پرمختګ**...................... ۲۹
د لیږدونې په دوره کې د تعلیمي نتیجو بهیر: ............................................................ ۲۹
د میندو د روغتیا د نتیجو بهیر........................................................................ ۳۲
اساسي خدمتونوته د لاس رسی بهی........................................................................ ۳۵
**څلورم څپرکی** ۳۸
**د کورنیو خطر او زیان مننه د جګړې د اغیزو تائیدوونکي دي:** ............................................ ۳۸
د مقابلې د شوکونو او ستراتیژیو په وړاندې زیانمننه ........................................................ ۳۸
شوکونه او شخړې ........................................................................................ ۴۳
تولنیز مصؤنیت ته لاس رسی ........................................................................ ۴۶
**پنځم څپرکی** ۴۹
**کلیدی پیغامونه** ........................................................................................ ۴۹
**کتاب پیژندنه** ........................................................................................ ۵۱

۱ شکل: دفی نفر ناخالصو تولیداتو وده او دمحصولاتو سکټورونه ........ ۱۰

۲ شکل: دافغانتسان دبیار غوني له پاره د امریکامالي مرستي (تخصیصات) ........ ۱۱

۳ شکل: دپیښو بهیر او دجګړې له امله داوسیدونکو اتباعو تلفات ........ ۱۱

۴ شکل: هغه ولسوالۍ چې ۲۰۱۱ او ۲۰۱٤ م کلونو کې یې زیاتې جګړې درلودې ........ ۱۱

۵ شکل: دخپل ځان او کورنۍ له امنیت څخه داندیښني او تشویش په اړه دافغانانو رپوټ ........ ۱۲

۶ شکل: شکل دفقر او غربت بهیر ........ ۱۳

۷ شکل: له سروې څخه دمخه دسوکالۍ او هوسایني په اړه دکورنیو رپوټ ........ ۱۳

۸ شکل: داستوګني دځای په اساس دغریبو او بیوزلو وګړو سرشمیرنه ........ ۱۴

۹ شکل: دسیمي په اساس دغریبو او بیوزلو وګړو دسرشمیرنې بهیر ........ ۱۴

۱۰ شکل: د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱٤ کلونو ترمینځ د ودې او پراختیا نښې نښانې موجودې دي ........ ۱۵

۱۱ شکل: بې ځایه شوي وګړي (نفوس) دبې ځایه کیدنې دکال په بیلوالي (په زرو) ........ ۱۶

۱۲ شکل: سیمو په بیلوالی سره د داخلي بې ځایه کیدني ویش ........ ۱۶

۱۳ شکل: دهغو ځوانانو ډله چې په مرکزي او جنوبي آسیا کې ژوند کوي ........ ۲۰

۱۴ شکل: دځوانانو بې کاري او دکار کسب نشتوالی دجنسیت او داستوګنې دځای په اساس ........ ۲۱

۱۵ شکل: دبې کاره نارینه ځوانانو د ښوونې او روزنې خانګړنې داستوګنې دځای په اساس ........ ۲۱

۱۶ شکل: د (۲۵- ۵۰) کلونو ترمینځ دنارینه بالغووګړو دکار ي ځواک دبې کارۍ او کار کسب نشتوالی بهیر ........ ۲۳

۱۷ شکل: دنارینه ځوانانو دکارۍ ځواک دنیم وخت کار کسب ........ ۲۳

۱۸ شکل: دسکټور په اساس په کار کسب کې بدلونونه، نارینه ځوانان (۲۵- ۵۰)کلن ........ ۲۴

۱۹ شکل: دسیمي په اساس دبې کارۍ او کار کسب دنشتوالي اندازه (۲۵، ۵۰)کلن ........ ۲۴

۲۰ شکل: د انفرادي اقتصادي مهاجرینو عمري ځانګړنې ( مشخصات) ........ ۲۶

۲۱ شکل: د بهرنیو مهاجرینو تر منځ د کلیوالي نفوس او د افغانستان د کلي نفوس ونډه ........ ۲۶

۲۲ شکل: د انفرادي مهاجرت بهیر ........ ۲۷

۲۳ شکل: د سروې د کال له مخې د مهاجرو کارګرانو د انتخاب وړ مقصد هیوادونه ........ ۲۷

۲۴ شکل: د لیږونکي هیواد له مخې له بهر څخه د رالیږلو شویو پیسو ویش ........ ۲۷

۲۵ شکل: د منتخبو تعلیمي نتیجو دکلنۍ ودې کچه ........ ۳۰

۲۶ شکل: ،په لومړنیو ښوونځیو کې د حضوراو شتون بهیر د استوګنې د ځای له مخې۱۴ ........ ۳۰

۲۷ شکل: په لومړنیو ښوونځیو کې د حضوراو شتون بهیر، د جندر له مخې ........ ۳۰

۲۸ شکل: په شخړه کې بدلونونه او په لومړنیو ښوونځیو کې د شتون کچه، ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ ........ ۳۱

۲۹ شکل: د ولایت له مخې په لومړنیو ښوونځیو او جګړه کې د هلکانو په پرتله د نجونو د شتون په نسبت بدلونونه ........ ۳۱

۳۰ شکل: په لومړنیو ښوونځیو کې د حضوراو شتون شمیر، د سوکالۍ د حالت له مخې ........ ۳۲

۳۱ شکل: د میندو د روغتیا د نتیجو بهیر ........ ۳۳

۳۲ شکل: د استوګنې د ځای له مخې له زیږون مخکې په تخصصي څارنو د لاس رسۍ بهیر ........ ۳۳

۳۳ شکل: د استوګنې د ځای له مخې د ماهرو قابلو په شتون سره د زیږون بهیر ........ ۳۳

۳۴ شکل: له زیږون مخکې تخصصي څارنو ته د لاس رسۍ بهیر، د بیوزلۍ د حالت له مخې ........ ۳۴

۳۵ شکل: د زیږون په وخت کې تخصصي مرستې ته د لاس رسۍ، د بیوزلۍ د حالت له مخې ........ ۳۵

۳۶ شکل: د لګښتي quintileپه تفکیک سره د میندو د روغتیا نتیجې ( ۵ برخه/ شل سلنه )، ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ ........ ۳۴

۳۷ شکل: اساسي خدمتونو ته د لاس رسۍ بهیر ........ ۳۵

۳۸ شکل: د ښځناک روغتیایي اوبو ته د لاس رسۍ بهیر، د استوګنې د سیمې په تفکیک سره ........ ۳۶

۳۹ شکل: بریښنا ته د لاس رسۍ بهیر، د استوګنې د سیمې په تفکیک سره ........ ۳۶

۴۰ شکل: د ښځناک په روغتیایي اوبو د لاس بري بهیر، د بیوزلۍ د حالت په تفکیک سره ........ ۳۶

۴۱ شکل: په بریښنا د لاس بري بهیر، د بیوزلۍ دحالت په تفکیک سره ........ ۳۶

۴۲ شکل: د شوک رامنځته کیدل، ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ ........ ۳۹

۴۳ شکل: له شوک سر مخامخ کیدل، د نوعیت له مخې ډلبندۍ، دوره ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ ........ ۳۹

۴۴ شکل: د شوکونو سیمه ییز څرګندویې ۲۰۱۳-۲۰۱۴ ........ ۴۱

۴۵ شکل: د لګښتي Quintile له مخې د شوکونو منځنی شمیر، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ ........ ۴۱

۴۶ شکل: د مقابلې له زیانمنونکو ستراتیژیو څخه استفاده، د سوکالۍ د حالت له مخې ........ ۴۱

۴۷ شکل: د خلکو له خوا د رپوټ ورکړای شویو امنیتي شوکونو رامنځته کیدل او ربښتیني شخړه ........ ۴۳

۴۸ شکل: د شخړې د سختوالي په تفکیک سره د شوک رامنځته کیدل او د شوک ډول )څرنګوالی(۲۰۱۴-۲۰۱۳ ........ ۴۴

۴۹ شکل: د کورني نا خالص تولید د یوې برخې په توګه د ټولنیزو مرستو په برخه کې ټول لګښتونه (په بودجه کې) ........ ۴۵

۵۰ شکل: د کورني نا خالص تولید د یوې برخې په توګه د ټولنیزو مرستو په برخه کې ټول لګښتونه (په بودجه کې) ........ ۴۶

۵۱ شکل : ټولنیز مصؤنیت ته لاس رسی، د سوکالۍ د حالت په تفکیک سره ۲۰۱۳-۲۰۱۴ ........................................ ۴۷
۵۲ شکل : ټولنیز مصؤنیت ته لاس رسی، د شوک د رامنځته کیدو په تفکیک سره ،۲۰۱۳- ۲۰۱۴ ........................... ۴۸
۵۳ شکل : د سوکالۍ د حالت او د شخړې د سختوالي په تفکیک سره په ټولنیز مصؤنیت برلاسی،۲۰۱۳-۲۰۱۴............ ۴۹

۱جدول : په افغانستان کې میاشتني کارګري عواید او هغه پیسې چې له بهر څخه رالیږلې کیږي ..............................۲۷

باکس ۱ : په افغانستان کې دفقر او غربت ارزونه ..................................................................................... ۱۴
باکس ۲ : په افغانستان کې دژوند دحالت سروې او دبې ځایه شویو معلوماتو ننګونې او ستونزې ............................ ۱۷
باکس ۳ : دکار دبازار شاخصونو پیژندنه (تعریف) ................................................................................. ۲۰
باکس ٤ : د وګړو څرنګوالی، د کار د مارکیټ ارخونه او تاوتریخوالی ............................................................۲۲
باکس ۵ : دبهیر دتجزیې، تحلیل او پرتلنې وړ موضوعات ........................................................................۲۲

# مننلیک

د افغانستان د بیوزلی د حالت په اړوند رپورټ د افغانستان د اقتصاد د وزارت او نړیوال بانک د ګډو هڅو په پایلو کښی ترتیب شویدی. نوموړی رپورټ د افغانستان د اقتصاد د وزارت د پالیسی او تخنیکی چارو د معین محترم محمد اسماعیل رحیمی او د نړیوال بانک د ختیځی آسیا د تیم د مشری محترمه سیلویا ریدالی (لوړپوړی اقتصاد پوه) د ګډو هڅو پایله ده.

ددی رپورټ د کار پوهانو په ډله کښی محترمه کرستینا و ایزر (د نړیوال بانک اقتصاد پوه)، محترم میتوو ایج مورتن (د نړیوال بانک د ټولنیزو د ساتنی کار پوه)، محترم نبی سروش (د پالیسی او د پایلو پر بنسټ د کتنی او ارزونی عمومی رئیس)، محترم سیر احمد نیاز (د وزارت اقتصاد د اقتصادی پالیسی رئیس) او محترم محمدالله رحمدل (د بیوزلی د ارزونی د څانګی مشر) ګډون درلود. محترمه کلاوډیه ناسیف، محترم ویلیم بایرډ، محترمه سالیش تیواری، محترم ریجرډ سپنسر هوګ او محترم شعیب شریفی ددی رپورټ په جوړولو کښی اړینه ونډه درلوده. ددی رپورټ و جوړولو ډله همدارنګه د محترم آلډو موری او محترمه هنا چانګ څخه ددوی د نه ستړی کیدونکی هڅو دپاره چه د دی رپورټ د فارمت او لیکلو په اړوند یی تر سره کړیدی د زړه له کومی مننه کوی.

ددی رپورټ د جوړولو ډله همدارنګه د افغانستان د اقتصاد وزارت د جلالتمآب وزیر صاحب عبدالستار "مراد"، د محترم شوبهام چړ هدری (په افغانستان کښی نړیوال بانک ریس)، محترم ستیفن این نیدګوا (په افغانستان کښی د نړیوال بانک مدیر)، محترمه بین باډین (په ختیځه آسیا کښی د نړیوال بانک د بیوزلی د چارو مدیره) څخه هم د دوی د هڅو لپاره مننه کووی او همدارنګه په افغانستان کښی د نړیوال بانک د کارکوونکو څخه هم یوه نړی مننه جه ددی رپورټ په جوړولو کښی ډیره مرسته کړیده.

# سریزه

خوشحاله یم چه د افغانستان د اسلامی جمهوریت وګړو ته د افغانستان د بیوزلی د څرنګوالی رپورټ وړاندی کړم.
نوموړی رپورټ د افغانستان د هستوګنی د سروی د معلوماتو په رڼا کښی جوړ شویدی کومه چه په ملی ډول د کورنیو د بیوزلی د کچی د معلومولو سروی ده چه د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د انتقالی دوری په اوږده کښی تر سره شویده او ددی لاسته راغلو معلوماتو پرتله کول د هغو معلوماتو سره کوم چه د انتقالی دوری څخه د مخه ترسره شویدی ددی رپورټ د بنسټیزو موخو څخه دی چه پدی رپورټ کښی په ننی افغانستان کښی د بیوزلی اړخونو به اړوند معلومات ورکړل شویدی.
د یادولو وړ ده چه نوموړی ربورټ نشی کولای چه د افغانستان د ټولنیز او اقتصادی اړخونو چه یو ډیر کړکیچن بحث دی بشپړ انځور وړاندی کړی ولی نوموړی رپورټ پدی موخه ترتیب شویدی چه د افغانستان د بیوزلی بنسټیزه اړخونو وڅیړل شی او همدارنګه په ټولنیز ګډون سره د هغو ګواښونو کموالی تر بحث لاندی ونیول شی.
د افغانستان د اقتصاد وزارت اونړیوال بانک د افغانستان د وګړو د شمیر مرکزی څخه د دوی د مرستو او په ځانګړی ډول د افغانستان د کورنیو د معلوماتو په شریکولو چه د پایلو په رڼا کښی د پالیسی جوړولو دپاره ډیر ګټور وو د زړه له کومی مننه کووی.
مونږ د خپلو همکارانو او مرسته کوونکو سره په راتلونکی کښی د کار کولو په هیله یوو.

عبدالستار "مراد"
د افغانستان د اقتصاد وزیر

شوبهم چهودری
په افغانستان کښی نړیوال بانک ریس

# دفعالیتونو لنډیز

د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو ترمینځ دورې اقتصـــــادي وده ، چې دلیږد (انتقال) دورې په نامه یادیږي او د ۲۰۱۴ کال دټاکنو او افغان ځواکونو ته دامنیتي مســـوولیت دلیږد او انتقال سبب وګرځید،په ځینو دلیلونو ، لکه: دمرستو کمښـــت، دنړیوالو نظامي ځواکونو کمښـــت او دجګړې او بې ثباتۍ زیاتوالی د اقتصـــــادي ودې د ډیر کموالي لامل شو. د ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ـ ۲۰۱۲م کلونو ترمینځ دکتنې وړ مرستو له راتګ سره سره د انتقال له مرحلې څخه دمخه موجودو ټولنیزو – اقتصـــادي عواملو یوازې دانتقال په موده کې زیاتوالی وموند او په دې دوره کې نا اتکل شوی کړکیچ او بحران یو ځل بیا دغریبو او شتمنو، ښاري او کلیوالي سیمو، ښځو او نارینه و، نجونو او هلکانو ترمینځ ډیرې نابرابرۍ راڅرګندې کړې، چې همدې دافغانســــتان دټولنې وجود ته ستر زیان واړوه. دټولنې ډیر غریب ،بیوزلي او زیانمن شـوې طبقې، چې دانتقال له مرحلې څخه دمخه له پرمختګ او سـوکالۍ نه لرې برخمن وو، داقتصـادي او امنیتي حالت په خرابیدلو سره دیرې زیانمنې شوي.په افغانستان کې دفقر او بیوزلۍ دحالت تحلیلي رپوټ : ((له خطر سره مخامخ پرمختګ)) په نوې نســـخه کې دانتقال په دوره کې دفقر، غربت او بیوزلۍ دحالت اړوند بدلونونه توضیح شوي دي. دغه سند دفقر او غربت عوامل مشـــخصـــوي او په ګوته کوي یې او ۲۰۱۴م کال ته په پاملرنه دزیانمننې او نابرابریو پورې اړوندې کړنلارې او پالیسۍ وړاندیز کوي.

## ۱. دفقر او بیوزلۍ زیاتوالی:دامنیت او اقتصادي ودې اهمیت

له انتقال نه دمخه مرحلې پورې اړوند شواهد څرګندوي چې که چیرې اقتصـــادي وده له پراخې نابرابرۍ سره ملګرې وي، دفقر او غربت دکمښـــت له پاره به کافي نه وي، لکه څنګه چې دفقر او غربت دتحلیلي رپورټ په مخکینۍ نســـخه کې یادونه وشوه ، چې دافغانســـتان د ټولو خلکو دسوکالۍ نشـتوالی او مخ په زیاتیدو نابرابري ددې مســـلې ستر دلیل دی ، چې ولې دانتقال له دورې څخه دمخه د ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ـ ۲۰۱۲ کلونو ترمینځ د دوامدارې اقتصـــــادي ودې سره سره اوس هم ۳۶سلنه وګړي په فقر او غربت کې ژوند کوي.

په افغانستان کې دانتقال مرحله څرګندوي چې دپایښت لرونکې او کارکسب پیدا کوونکي ودې او دجګړې زیاتوالي ۱،۳ میلیونه افغان وګړي په ۲۰۱۱ـ ۲۰۱۲م کلونو کې دفقر پرخوا بوتلل او همدې کار شـــاوخوا ۳۹،۱ ســـلنه دغربت او بیوزلۍ کچه زیاته کړه.دافغانانو ترمینځ ډیرو لږو غریب او بیوزلي وګړو ځان له دغه ســـتونزې او کړکیچ څخه وژغوره او دا هم له دې امله و ، چې هغو دپیښـو په وړاندې په دغو لږو امکاناتو دمقابلې ځواک نه درلود او له بلې خوا دغه بحران او کړکیچ په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې ډیر زیات و، هلته چې ډیر غریب او بیوزلي وګړي پکې استوګنو لري. همدارنګه دنړیوالو ځواکونو کمښـــت او ورسره دنړیوالو مرستو کمیدل ددې لامل وګرځید،چې زیاتره کلیوال وګړي خپل کار کسب او دګټې وټې وسیله له لاسه ورکړې.

دجنګ او جګړې دشـتون په صـورت کې غربت، بیوزلي او زیان منل هم زیاتیږي. په هماغه اندازه چې جګړې زیاتوالی وموند او ټول هیواد ته خپره شوه، کورني بې ځایه شوي هم زیات شول فقر او غربت ډیره ناوړه بڼه خپله کړه او دکارکســــــب پیدا کولو ستونزې د افغانانو کورنیو ته زیاتې شوې.

دبشـــــر دوستانه مرستو د برابرولو او همغږۍ له پاره دملګرو ملتونو دسازمان دفتر (OCHA)، دارقامو او شمیرو له مخې په افغانســـتان کې کورني بې ځایه شوي شاوخوا ۲،۹ میلیونو تنو ته رسیږي، چې له دې جملې څخه ۲۲ سلنې په ۲۰۱۶ کال کې خپل کورونه پریښـې دي[1]. له جګړې او داخلي بې ځایه کیدنې، پاکسـتان او ایران څخه دزیاتو راستنیدونکو سره رامنځته شوې ننګونې زیاتې شوي او یوازې په ۲۰۱۶ کال کې ۲۵۰ زره تنه غیر قانوني مهاجر او ۷۰ زره قانوني مهاجر له پاکســـتان او ۴۶۰ زره تنه غیر قانوني مهاجر له ایران څخه راستانه شوي دي.

---

۱ د ۲۰۱۷ کال د جنوري په میاشت کې دورځې رسولو شمیرو له پاره وګورئ:( http://www.unocha.org/afghanistan)

## ۲. په افغانستان کې دکار کسب ستونزه او کړکيچ: يوه له لاسه تللی لسيزه

دکړکيچ او بحران کومه اندازه ، چې د انتقال په دوره کې رامينځته شوه، دکار له پاره تقاضــا او غوښــتنه يې کمه کړه او ددې مخه يې ونيوله چې په افغانسـتان کې دکار بازار دهغه کاري ځواک له پاره چې دودې په حال کې دی، په کافي اندازه کار کسـب او دندې پيدا کړي. دغه کار کسب دکمښت ستونزه ددې سبب شوه، چې له انتقال څخه دمخه مرحله کې رامينځته شوی دکار کسب او دندو وسيلې او فرصتونه هم له لاسه ووځي. يوازې د ځوانو نارينه و له پاره دکار کســـب او دندو ته توجه هم له هرپنځو کارونو څخه څلور يې، چې په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ او ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلونو کې رامينځته شوي وو، له لاسه ولاړل او د ۱،۹ ميليونه افغان وګړو دبې کاره کيدو لامل شو.

دمعمول له مخې دبحران او کړکيچ دغه اغيزې هم په برابر ډول ونه ويشل شوې، بلکې دکليوالو سيمو ځوانان او بې سواده کارګران له دې اړخه ډير زيانمن شــول. په خانګړې توګه په کليوالو ســيمو له هرو دوو تنو افغانانو څخه، چې په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کلونو کې دکار کســـب او دندې خاوندان شوي وو او له ۲۵کلونو څخه راښکته عمر يې درلود، له ۱۰ کارونو څخه يې ۹ له لاسه ولاړل او له پنځو کار کسبونو څخه څلور يې دبې سوادو کار کوونکو له لاسه وتلي وو.

انســـــــــاني پانګه دبحران او کړکيچ په موده کې دبحران د دورې دبيکارۍ په وړاندې ديوې حل لارې په توګه راڅرګنده شوه . همدارنګه دانتقال له دورې څخه دمخه انساني ځواک او پانګه دفقر او غربت دکمښت له پاره ديو کتلســت او لار پرانيســتونکي په توګه ګڼل کيده، ځکه هغه کارګران چې دکار کولو ډير او ښه استعداد يې درلود، کولې يې شول چې دکار کســـب او دندو له ښې ګټې وټې او امتيازاتو نه برخمن شي.

دافغانانو دکورنيو له پاره جګړه او محدود اقتصـــــــادي فرصتونه، دهغو احتمالي خطرونو دمخنيوي له پاره، چې دوې مهاجر او کډوالوي يو معمول کار دی . زياترو افغانانو دانتقال په دوران کې داقتصـــادي او امنيتي ستونزو او کړکيچونو سره دمقابلې له پاره خپل کور کلي او بانډې دجبري بې کوره کيدو او يا داقتصادي لارو چارو دغوراوي په منظور ، چې غوښتل يې له احتمالي اقتصادي خطرونو څخه يې کورنۍ وژغورل شي اوله هغو سره مرسته وکړای شي، خپل کورونه او کلي يې پريښودل. په داسې حال کې چې بې ځايه شوې کورنۍ په ښــاري مرکزونو کې دسرپناه پيدا کولو په هڅه اوليته کې دي، زياتره دکار دبازار له فقر او بيوزلۍ له زيان سره مخامخ کيږي. هغو کورنيو چې دخپلې کورنۍ له غړو سره يې مهاجرت کړی او په نورو هيوادونو کې يې کار کســـب او دندې پيدا کړي، دخپلو کورنيو له پاره يې څه پيسې لاسته راوړي او دکورنۍ له پاره دګټې وټې يوه ښه وسيله ګرځيدلې ده.

## 3. دافغانستان دراتلونکې جوړول – دبشري پرمختيا په وړاندې خنډونه او ننګونې

دبشري پرمختيا له پاره پرمختګ او ښه والی له پخوا څخه تر ۲۰۰۱م کال پورې دافغانسـتان يوه مهمه بريا او لاسته راوړنه ده، چې دبې سارې مرستو په نتيجه کې، سواد، په ښوونځيو کې نوم ليکنه، ځينو اساسي سرچينو ، لکه: اوبه، روغتيا ساتنې او بريښـــــنا ته لاس رســی تر لاســه شــوی دی. دې ټولو په لومړي ګام کې له انتقال څخه دمخه دورې د ۲۰۰۷-۲۰۰۸م او ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کلونو ترمينځ يې ښه والی موندلی دی.

دانتقال په دوره کې ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کلونو کې دمرستو کمښــــــــت او دجګړې زياتوالي دپرمختيا ګامونه، په ځانګړې توګه د ښوونې او روزنې او دمينډو دروغتيا په برخه کې لاسته راوړنې له خنډ او ځنډ سره مخامخ کړي. زياته انديښنه دا وه ، چې په ځانګړې توګه په کليوالي سيمو کې په ښــوونځيو کې دنجونو نوم ليکنه کمه شــوه. په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴م کلونو کې په ښوونځيو کې دنجونو حضــور په کال کې دوه سلنه (٪۲) کمښــت وموند، په داسې حال کې چې دهلکانو نوم ليکنې ۰،۶ سلنه کموالی وموند.

دفقر او غربت زياتوالی او ورځ تر ورځې دجګړې پراخيدل ددې ستونزو ستر او مهم لاملونه دي، همدغه عوامل دراتلونکې نســـل ښوونه او روزنه، همدارنګه دټولنيز نظم او دهيواد دپرمختيا له پاره وړتيا او ظرفيت ګواښوي.

## ٤. دافغان کورنيو زيان مننه او ستونزې

لکه څنګه چې دفقر او بیوزلۍ دتحلیل په مخکینی رپوټ کې وویل شو، چې له پیښــو څخه زیان رسیدنه دافغانســتان یو ه تولنیزه او اقتصــادي ننګونه ده، دهیواد ساده اقتصــادي جوړښت، او دژوند تیرولو له پاره پرکرنه کلکه تکیه، پیچلي جغرافیه، اقلیمي احتمالي خطرونه او بدلونونه، دمصــؤنیت درسمي شبکو نشــتوالي او دجګړې اوږد تاریخ (پیلامه او ادامه) دا ټول دافغانســتان دخلکو له زیانمن کیدو سره مرسته کوي.

هغه اقتصــادي، امنیتي بحران او کړکیچ چې دانتقال په دوره کې د اتکل وړ نه و، دزیان منلو نښــي نښــانې یې زیاتې کړې او دا ددې سبب شــو، چې کورنۍ دغربت او بیوزلۍ په وړاندې مقابله ونکړای شــي. داکار نه یوازې ددې لامل شــو چې دزیان رســولو کچه او اندازه لوړه کړي، بلکې کورنیو ته ځینو مشخصو او څرګندو (شخصي) او غیر عادي زیانونو ته په ځانګړې توګه دپیښو ، نارو غیو او دمړینې اندازې ته د ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ - ۲۰۱۴ م کلونو ترمینځ زیاتوالی ورکړي او له ۹،۵ سلنې څخه یې ۶,۱۸ سلنې ته لوړ کړي.

فقر، غربت او جګړه په ګډه دپیښو په وړاندې دافغان کورنیو زیان مننه زیاتوي. ډیرې بیوزلې او غریبې کورنۍ او هغه کورنۍ چې په ډیرو جګړه یزو سیمو کې ژوند کوي، په ډیر احتمال په زیان رسوونکو میکانیزمونو له ستونزو او زیانونو سره مقابله کوي، په داسې حال کې چې کیدای شــي دغه لارې چارې او میتودونه دلنډې مودې له پاره له افغانانو سره دزیانونو په وړاندې مقابله کې څه ناڅه مرسته هم وکړي، خو په اوږد مهال کې دغه میکانیزمونه له غربت او بیوزلۍ څخه ژغورنه او دتیښــتې امکانات کموي، نو په همدې اساس په ټولو نسلونو کې دغربت او بیوزلۍ څرخ په حرکت او خوځښت راولي.

له خطرونو سره دمقابلې دلاملونو او وسیلو محدودیت دغه کورنۍ دمقابلې زیان رسوونکو لارو چارو څخه استفادې کولو ته اړ کړې دي،چې هغه دځارویو او ځمکې دپلورنې او ښــوونځیو ته دماشــومانو دتګ دمخنیوي ســبب ګرځیدلي ، دهغوی راتلونکی اقتصادي مولدیت او تولید یې کم کړی، غریبې او بیوزلې کورنۍ دفقر او غربت دام او ښکیلولو ته په ژوره توګه بیایي.

## ٥. کلیدي پیغامونه

افغانســتان دانتقال دپړاو او مرحلې د ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ - ۲۰۱۴ کلونو ترمینځ سخت اقتصـــادي بحران وزغمه، چې هغه داتباعو او استوګنو په غربت او زیان مننې باندې ډیرې ناوړه اغیزې درلودلې وی.دغه وضیعت دامنیتي حالت د خرابوالي له پاره په وروستیو کلونو کې زیات او سخت شوی دی. دافغانستان اقتصادي ودې په دې وروستیو کلونو کې ښه والی موندلی دی. داقتصاد وده په ۲۰۱۴ کال کې ۱،۳ سلنې څخه په ۲۰۱۵ کال کې ۱،۵ سلنې ته زیاتوالی موندلی و. دا په داسې حال کې دی، چې دافغانستان اقتصـــادي وده دوړاندوینې او پیش بینۍ پر اساس په ۲۰۱۶ کال کې له ۱،۲ سلنې څخه په ۲۰۳۰ میلادي کال کې ۵ سلنه لوړوالی ومومي، خو دغه اندازه دانتقال له زمانې څخه ټیټه او له ۸ سلنې څخه راښکته ده، چې دافغانســتان دکاري ځواک دودې په حال کې دکار کسب او پوره استخدام له پاره ورته اړتیا ده.

دجګړې او په هیواد کې ستونزمن حالات به په افغانستان کې د پرمختیا هڅې او کوښښونه او دفقر (غربت) له منځه وړل د ستونزو او ننګونو سره مخامخ کړي.

په دې برخه کې دانتقال د دورې د بهیر موندنې او لاســته راوړنې دمخکې پرتو ننګونو او چیلنجونو د ښــه مدیریت په منظور غوره معلومات وړاندې کوي. دې ته په پاملرنه او کتنه چې دافغانســتان اقتصـــادي وده به په راتلونکو کلونو کې دانتقال له دورې څخه مخکې اندازې ته ونه رسیږي، په افغانستان کې دفقر او غربت دکمولو موضوع دې لاندې لارښودونو ته اړتیا لري:

- دافغانستان اقتصادي وده باید دټیرو کلونو په پرتله ټول شموله او دملي شتمنۍ اوپانګې –روش باید په عادلانه ډول ترسره شي. دکرنې په پرمختیا، بازارونو ته دلاس رسۍ ښه والي او له ښارونو سره دکلیو په وصل کولو باندې په راتلونکو کلونو کې ډیرزیات تمرکز وشي.
- دهیواد له اتباعو او ستوګنو، په ځانګړې توګه له ځواني طبقې سره په کارموندنه کې باید مرسته وشي. دې ته په پاملرنه چې په کال کې شاوخوا ۴۰۰۰۰۰ تنه ځوانان دافغانستان دکار بازار ته معرفي کیږي، د کارګرانو ډکه وده باید دکاري ځواک داقتصادي مهاجرت په منظور دقانوني لارو دلټولو او پیدا کولو له پروګرامونو سره همغږې او ملګرې وي.
- په روغتیا ، زده کړه یا ښوونې روزنې او خدمتونو ته دلاس رسۍ په زیاتوالي باندې تمرکز باید دوام ومومي.
- له کورنیو سره دې مرسه وشي، چې د آفتونو او پیښو په وړاندې مبارزه وکړي او هغه زیان منني راکمې کړي، چې دجګړې ،طبیعي آفتونو او اقتصادي پیښو له امله رامینځته شوي دي.

# لومړی څپرکی


# دلیږد (انتقال) پړاو: اقتصادي بهیر، جګړه او غربت

**لنډیز:** په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۴ م کلونو کې اقتصادي وده دنړیوالو مرستو دکمښت، دجګړې حالت دخرابوالي او بې ثباتۍ او دسیاسي – امنیتي دانتقال له امله د رامینځته شوي ستونزې او وارخطایۍ په خاطر ډیره محدوده شوه. په نتیجه کې دهغو وګړو سلنه چې دغربت او بیوزلۍ له کرښې لاندې ژوند کوي په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ کلونو کې له ۳۵،۸ سلنې څخه په ۲۰۱۳ ـ ۲۰۱۴م کلونو کې ۳۹،۱ سلنې ته زیاته شوه، ۱،۳ میلیونه تنه افغانان بیا هم دغربت او بیوزلۍ په لومه کې ښکیل پاتې شول. دغربت او بیوزلۍ زیاتوالی، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې د انتقال له مرحلې څخه دمخه یې له نړیوالو مرستو څخه ډیره ګټه اخیستې وه، په کلیوالو سیمو او جنوب لویدیزو سیمو کې ډیرو. په هماغه اندازه چې جګړه په ټول هیواد کې خپره شوه، داخلي یا کورني بې ځایه شوي ارقام هم لوړ شول او دافغانو کورنیو دټولنیز ژوند او اقتصادی ستونزې او ننګونې یې زیاتې کړې.

## اقتصادي بهیر، مرستې او جګړه

**دانتقال په مرحله کې په اقتصادي ودې کې کمښت رامینځته شو.** داقتصادي پراختیا او ودې سستوالی په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ م کلونو کې په پراخه کچه دنړیوالو مرستو دکمښت او دجګړې دزیاتوالي او بې ثباتۍ له امله د پانګه اچونې دفضا د خرابیدو له امله رامینځته شو. دهر تن په سر د کورنیو ناخالصو تولیداتو وده په ۲۰۱۳ میلادي کال کې له ۱۰،۹ سلنې څخه په ۲۰۱۴ میلادي کال کې ۱،۷ ته راټیټه شوه، چې له انتقال څخه دمخه دورې ۲۰۰۷ او ۲۰۱۱کلونو کې له کلنۍ اوسط ۷،۷ سلنې (۱ شکل) څخه ډیر کم دی. په انتقالي دوره کې ناکرنیز سکټورونه په کلکه زیانمن شول. په ځانګړې توګه په ۲۰۱۴ میلادي کال دخدمتونو سکټور وده د ۲۰۱۲ میلادي کال په پرتله اووه ځله سسته او ځنډمنه وه او دصنایعو دسکټور پراختیا څلور برابره راکمه شوه. دهغې له مثبت نقطې نظره پرکرنیزو تولیداتو کلک او ځیونکی ګوزارونه شو، چې دثبت شویو محصولات دسطحې اوکچې په نسبت په ۲۰۱۲ میلادي کال کې ثابت پاتې شول.

**۱ شکل:** دفی نفر ناخالصو تولیداتو وده او دمحصولاتو سکټورونه





سرچینه (منبع): داحصایې مرکزي اداره ، ۲۰۱۶ م کال

1

**دنړیوالو مرستو دوامداره کمښت دودې اوپراختیا دکموالي لامل شو**. د نړیوالو مرستو کمښت دنړیوالو امنیتي ځواکونو له کمښت سره ملګرې و، کله چې موږ یوازې دامریکا متحده ایالتونو مرستو ته وګورو دمرستې هغه اندازه پیسې چې کانګرس په افغانستان کې دبیارغونې او نظامي عملیاتو له پاره اختصـــاص ورکړې وې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ میلادي کلونو ترمینځ زیاتره په امنیتي برخو کې دمرستو دکموالی له امله ۳۴ سلنې ته راښکته شوې، هر کله که موږ په امنیتي او دبیارغونې په برخو کې مرستې سره جمع کړو، په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ میلادي کلونو کې دکانګرس بودیجوي تخصیص له ۵۰ سلنې څخه زیاتې راکمې شوې(۲ شکل)


په داسې حال کې چې په افغانستان کې دمرستو دکمښت دمشخصاتو په هکله مستقیمو معلوماتو ته لاس رسی ممکن نه و، باید ومنو چې په عین سیمو کې چې دمخه یې له زیاتو مرستو څخه استفاده کړې وه، [۲]. لکه جنوب لویدیزې سیمې او تر لږې اندازې جنوبي سیمې او ختیځې سیمې، هغه سیمې دی چې دمرستو له کمښت څخه په کلکه اغیزمنې او زیانمنې شوې.

**۲ شکل:** دافغانتسان دبیارغونې له پاره د امریکامالي مرستې (تخصیصات)





سرچینه: سیګار (۲۰۱۶)

**۳ شکل:** دپیښنو بهیر او دجګړې له امله داوسیدونکو اتباعو تلفات




سرچینه: له SIOCC څخه دترلاسه شویو معلومات

**۴ شکل:** هغه ولسوالی چې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۴ م کلونو کې یې زیاتې جګړې درلودې





**یادښت:** هغه وخت ویلي شو چې په یوه ولسوالی کې جګړه زیاته ده، چې په هغو کې امنیتي پیښې په ملي کچه په ۲۰۱۱ میلادي کال کې له منځنی اندازې لوړې وي.
سرچینه: له SIOCC څخه دترلاسه شویو معلومات

۲ دافغانستان اسلامي جمهوري دولت داقتصاد وزارت (۲۰۱۵ م کال)

**دجګړې حالت او نامني په عین حال کې ستونزمنه او خرابه شوه** .په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ میلادي کلونو کې دمرستو له کمښت څخه وروسته مهال کې و چې په ۲۰۱۴ دنړیوالو ځواکونو په کموالي سره په افغانستان کې جګړه لوړې اندازې ته ورسیده او دجګړې پیښې او د عامووګړو تلفاتو شمیر[۳] لوړې کچې ۱۶،۹۴۸ او ۶۹۴۶ ته ورسید. په ترتیب (۳شکل) .[۴] لوړې کچې دجګړې عوامل او دهغې جغرافیوي ساحه دوخت په تیریدو سره پراخه شوه. دنړیوالو ځواکونو په مشرۍ محاربوي عملیات (چې دموج په نوم یادیدل) جګړه په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ م کلونو کې زیاته کړه، خو له ۲۰۱۳ میلادي کال وروســـــته دجګړې زیاتوالی یوازې دافغان نظامي ځواکونو، پولیســو او دولت ضد عناصروترمینځ راغی، په ټول افغانســتان کې جګړه خپره شوه، په داسې حال کې چې دنړیوالو نظامي ځواکونو ډیر جنګونه په ۲۰۱۱ میلادي کال (دموج په نوم) په جغرافیوي لحاظ په هغو ولســوالیو کې متمرکز وو، چې پکې ډیرې لړې سختې جګړې شوې وې. په ۲۰۱۴ میلادي کال جګړې معمولاً په نا امنو ولسوالیو کې پراخه شوې.[۵] (۴شکل).

**دامنیتي حالت خربوالی، دکورنیو د تجزیې،تحلیل او مشــاهدو په اساس هم لاس ته راغې.** په افغانســتان کې د ژوند حالت سروې دمعلوماتو په اساس ، ((په هغو ولســوالیو کې چې دوی اوسیږي، دنا امنۍ احســاس )) په باره کې داستوګنو کورنیو رپوټ شریکول په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کلونو کې ۱۶ سلنه ته ورسیده چې همدا شمیر په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ م کلونو کې ۱۴ سلنې ته رسیدلی و.[۶]
همدا رنګه، دافغانســتان د خلکو دهغی سروی څخه د ترلاسه شویو معلوماتو په اساس چې د (آسیا بنســت) له خوا وراندی شوی، څرګندیزی چی په ۲۰۱۴ میلادی کال کی د پیښو د زیاتوالی سره سم، د هغو افغانانو په کچه کی چی د خپل ځان یا د خپلی کورنی د امنیت په خاطر په ویره کی بیګاه او ســبا تیروی، د انتقال نه دمخکی دوری په پرتله زیاتوالی راغلی. او راتلونکې ته دامنیت په اړه احتمالاً دناوړه امنیتي حالت څخه دکورنیو برداشت په برخه کې دپانګې اچونې او پراختیا کمښت مرسته کړې ده.

**۵ شکل:** دخپل ځان او کورنۍ له امنیت څخه داندیښنې او تشویش په اړه دافغانانو رپوټ




سرچینه: " دافغانستان دخلکو سروې" په اړه دآسیا بنسټ له معلوماتو څخه په استفاده دلیکوال له خوا وړاندې شوي جزئیات.

۳ دانسانې چارو دهماهنګۍ دفتر ۲۰۱۶م دتعریف په اساس یوه حادثه یا پیښه او تلفات هغه وخت له جګړې څخه رامینځته شوي ګڼل کیږي، چې د ۱۰ ډوله پیښو له امله شوې وي: اختطاف (تښتونه) هوایي سانحه، وسله واله نښته، ترور او وژنه، ناوړه قصد، دسرک دغاړې ماین چاودنه ، ارعاب، دماینونو دچاودنې په اړه پیښې، له لرې واټن څخه برید او ځانمرګي برید.

۴ تازه او نوي معلومات په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ م کلونو کې دجګړې سختوالی تائیدوي. په ۲۰۱۶ م کال دنړیوال سولې دشاخص له مخې افغانستان له سوریې، جنوبي سوډان او عراق څخه وروسته دنړۍ څلورم هیوادو دی، چې په ټوله نړۍ کې پکې دسولې او سوکالۍ اندازه کمه ده " دسولې او اقتصاد بنسټ ۲۰۱۶م")

۵ یوازې په ۲۰۱۴ م کال کې د ۷،۶ سلنې په شمیر ولسوالۍ په جګړې کې زیانمنې شوي نه دي، یعنې دجګړې پورې اړوندو پیښو څخه اغیزمنې شوې نه دي.


۶ په افغانستان کې دژوند حالت سروې.

**دامنیتي وضعې خرابوالي دنړیوالو مرستو له کمښت سره یو ځای دکورنیو دژوند پر ښه والي او سوکالۍ منفي اغیزې کړې دي.** جګړه او کور ورانونکي شخړې ډېرې ویجاړونکې اغیزې لري، چې مستقیم او غیر مستقیم ډول دوګړو او کورنیو ژوند زیانمنوي. په مستقیمو زیانونو او اغیزو کې:[۷] (۱) دوژنو په اساس دکورنیو په ترکیب کې بدلونونه، ټپي کیدل او دجګړه مارو استخدام، (۲) دکورنیو اقتصادي حالت کې داقتصاد او پانګې دله منځه تللو له امله بدلونونه او (۳) دجبري مهاجرت او بې ځایه کیدو له امله را مینځته شوې ناوړه اغیزې شاملې دي. او په غیر مستقیمو اغیزو کې بازارونو ته دکورنیو لاس رسی او له بازار کار کسب، دندې او شبکو او بنسټونو سره اړیکې شاملې دي، له امنیتي انتقال څخه په وروسته مرحله کې دجګړې اغیزې دسیاسي بې ثباتۍ په زیاتوالي او دنړیوالو مرستو په کموالي سره زیاتې شوی. لکه څنګه چې دغربت او فقر دحالت په مخکیني تحلیلي رپوټ کې یې یادونه وشوه،[۸] زیاتې نړیوالې مرستې ددې سبب شوې، چې دخلکو دسوکالۍ او بوختیاوو له لارې په غیر کرنیز سکتورونو کې دکار کسب او دندو د رامینځته کولو سره په هغو سیمو کې چې دجګړو له امله زیانمنې شوې دي، تعادل او توازن رامینځته شي. په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ میلادي کلونو کې دنړیوالو پوځي لګښتونه او مرستو کمیدل په ځانګړې توګه دکار کسب دفرصتونو دکمښت سبب شول، چې په دې اساس ددې لامل شو چې له پیښو څخه زیانمن شویو کورنیو له پاره له احتمالي خطرونو سره دمقابلې موجود میکانیزمونه راکم او محدود شي.[۹]

## دفقر یا غربت او بیوزلۍ بهیر

**دانتقالي دورې فقر او بیوزلۍ دکتني ور زیاتوالی مونډلی دی.** په افغانستان کې ناوړه اقتصادي او امنیتي حالت دفقر او نیستۍ د ډیر زیاتوالي سبب شو، چې په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ م کال کې ۳۵،۸ سلنه په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کال کې ۳۹،۱ سلنې ته لوړه شوه (۶شکل) چې دا دفقر او غربت په وړاندې د افغاني کورنیو داحتمالي خطر پیښو څرګندونه او رښتینګې کوي.[۱۰] په واقعیت کې په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کلونو کې دسوکالۍ دویش دیوې سرچینې په توګه په انتقالي مرحله کې غربت او بیوزلۍ دچټک زیاتوالي (۹ سلنه) په نسبتاً لږو پیښو سره – تقریباً ۴ سلنه پر مصرف او لګښت منفي دي.[۱۱] دفقر او غربت زیاتوالی له رفاه او سوکالۍ څخه د سوی برداشت سبب ګرځیدلی دی. په هغې پوښتنه کې چې تیر کال د افغانانو دژوند دحالت په اړه شوې ده، ۵۱،۳ سلنه کورنیو په ۲۰۱۲-۲۰۱۴ م کال کې ۳۳،۸ سلنه په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کال په پرتله او په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ م کال کې ۱۶،۷ سلنه دخپل اقتصادي حالت دخرابوالي رپوټ ورکړی دی.


**۶شکل:** دفقر او غربت بهیر




**یادداښت:** پیه ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کال کې دفقر او غربت بیوزلۍ براورد د SSI له طریقې څخه په استفاده ترلاسه شوی دی.(دباکس ته مراجعه وکړئ)

سرچینه:په ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ م کال کې دملي خطراتو او زیان مننې او ارزونې په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کال کې دافغانستان دخلکو دژوند دحالت سروی او په ۲۰۱۳-۲۰۱۴کال کې دافغانستان دخلکو دژوند دحالت سروی څخه په استفاده دلیکوال محاسبې او ارقام.

**۷شکل:** له سروې څخه دمخه دسوکالۍ او بسایني په اړه دکورنیو رپوټ




سرچینه:په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کال په افغانستان کې دخلکو دژوند دحالت سروې او په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کال په افغانستان کې دخلکو دژوند دحالت له سروې څخه په استفاده دلیکوال محاسبه.

۷ جستینو ۲۰۰۹، ۲۰۱۲

۸ دافغانستان اسلامی جمهوریت اقتصاد وزارت (۲۰۱۵)

۹ دوهم او څلورم څپرکو ته دې مراجعه وشي.

۱۰ په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کالونو کې تقریباً دافغانستان نیمایي وګړي (نفوس) یعنې ۵۵ سلنې دغربت له کرښې لاندې ۱۲۰ سلنه لګښت او مصرف کاوه او هغه دا څرګندوی چې دپیښو ۲۰ سلنه منفي اغیزې دهیواد دنیمایي نفوس پرلګښت سره په بالقوه ډول دفقر او غربت په دام کې ښکیل کړی دی.

۱۱ په کورني ناخالص تولید کې متناظر کمښت په دې دوره کې په هر تن ۱۰،۵ سلنه و.

## ۱ باکس په افغانستان کې دفقر او غربت ارزونه

دنړيوالو ستندردونو او معيارونو سره سم په افغانستن کې دفقر او غربت ارزونه او سنجول داساسي اړتياوو دلګښت دارزونې دطريقې (CBN) پربنسټ ترسره کيږي. دافغانستان له پاره په ۲۰۱۰م کال دفقر او غربت رسمي کرښه د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ م کال ملي احتمالي خطراتو او زيان منلو دارزونې (NRVA) دمعلوماتو په اساس ټاکل شوې دي او دبيو دبدلون دانعکاس ورکولو له پاره دوخت په تيريدو په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کال کې نوی او نن ورځنې شو.(د اساسي اړتياوو دلګښت معلومولو لمخې د فقر کرښه د هغو پولې لګښتونو د ارزښت ښکارندوی ده کوم چې د کورنې غړی به وکولای شي په هغه باندې د خپلو خوراکي او غير خوراکي اړتياوی برابره کړي). په همدې ډول دغريبو او بېوزلو وګړو سرشميرنه او يا په ساده ډول دغربت او بېوزلۍ اندازه دهغو خلکو ونډه چې لګښتونه يې دفقر او غربت دکرښې لاندې دی، څرګندوي.

په افغانستان کې دفقر او غربت دسنجش زياتوالی دلګښتونو دمقايسوي سنجش غوښتونکي دی. په هر حال دنمونې د دوره يې پلان په اساس په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کال کې په افغانستان کې دژوند دحالت په سروې کې دغذايي لګښتونو سروې شوې نه دی.


دغذايي لګښتونو په اړه دمعلوماتو نشتوالي له امله په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې دژوند دحالت سروې کې دفقر او غربت مسئله سروی ته په نسبت ورکولو له طريقې (SSI) څخه په استفاده اټکل شوې وه، سروې ته په نسبت ورکولو طريقه او لاره دورکو شويو معلوماتو دتخمين او اندازه کولو (براورد) له پاره (چې په دې صورت کې کورنی لګښتونه سره جمع او يوځای کوي) په کومه بله سروی کې دوروسته پاتې کيدنې (ريګريشن) له نمونې څخه، چې په يوې سروې کې دموجودو معلوماتو څخه رامينځته کيږي، استفاده کوي. په ډير مشخص ډول په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال کې په افغانستان کې د ژوند دحالت سروې دهر نفر دلګښت دنمونې داټکلولو او براورد کولو له پاره تر استفادې لاندې ونيوله او له هغې وروسته له سروی څخه سروې ته دنسبت ورکولو لاره او طريقه په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال کې دافغانستان کې دژوند دحالت په سروی کې دفقر او غربت اندازه تر استفادې لاندې ونيول شوه.

دسروی څخه سروې ته دنسبت ورکولو ميتود څخه په استفادې کولو سره په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کال کې دفقر او غربت اندازه ۳۹،۱ سلنه براورد شوه. له سروې څخه سروې ته په نسبت ورکولو ميتود دترسره کولو نتيجه کټ مټ له همدغې لارې او طريقې او نمونې څخه په استفادې په ۲۰۰۷-۲۰۰۸م کال دملي زيان منني خطرونو په ارزونې کې دلګښت او فقر دتخمين کولو له پاره ډير اعتبار تر لاسه کړ، چې په دې اساس دواقعي لګښتونو او دغربت دمستقيم تخمين او اټکلولو په باره کې معلومات موجود دي. لکه څنګه چې په دې لاندې شکل کې ښودل شوي دي.په ۲۰۰۷-۲۰۰۸م کال کې دفقر او غربت رښتنيي او واقعي اندازه، دبيلابيلو ارقامو او شميرو له نظره هغه څه چې دسروې څخه سروې ته دنسبت ورکولو د ميتود په واسطه ښودل شوي دي، توپيرنه لري. شواهد دا په ګوته کوی چه د غريبی کچه په ۲۰۰۷-۰۸ د اټکل لګوونی ميتود ( ايس ايس ای) شمير له نظره توپير ندی کړی.

يادښت: ددې ميتود دتوضيحاتو دتفصيل دمطالعې له پاره د احصايې مرکزی اداری (2015) او Sherpa et al (2016 ته مراجعه وکړئ.

**په انتقالي دورهکې کليوالي سيمې د سوکالۍ او هوساينې له نظره کلکې زيانمنی شوې.** فقر او غربت په کليوالو سيمو کې ۱۴سلنه زياتوالی وموند. داسې چې په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کال کې له ۳۸,۳ سلنې څخه يې په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال ۴۳,۶ سلنه بدلون وموند، (۸شکل) له بلې خوا په همدې موده کې په ښاري سيمو کې دفقر او غربت حالت، دهغو مهاجرتونو په استثنا، چې له کليوالي ساحو څخه ښاري ساحی جوړی شوي دي، نور يې کوم بدلون ونه موند. په کليوالي ساحو کې دژوند دحالت خرابيدل زياتره دامنيتي حالت په خرابوالي او دنړيوالو مرستو په کموالي او دبهرنيو امنيتي ځواکونو په کمښت پورې اړوند او مربوطوو. په نتيجه کې زراعتي سکتور کې دکار له پاره غوښتنه او تقاضا کمه شوه، او زياتره هغه دندې او کار کسبونه، چې دخدمتونو په سکتور کې دانتقال څخه دمخه دوره کې[۱۲] رامينځته شوي وو، له لاسه ووتل، او په دې اساس دا ددې لامل شو، چې دندې او کار کسبونه کم شي او ورسره دکورنيو سوکالي او هوساينه هم لړه شي.


**۸ شکل :** داستوګنې دځای په اساس دغريبو او بېوزلو وګړو سرشميرنه




يادښت: په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال کې د فقر او غربت براورد او اندازه کول دسروې څخه سروې ته دنسبت ورکولو دطريقی په اساس تر لاسه شوي دي.(۱ باکس ته مراجعه وکړئ)

سرچينه : په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کال دملي خطرونو دزيان منلو دارزونې او په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کال کې په افغانستان کې دخلکو دژوند د حالت دښه والي سروی او په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کال کې په افغانستان کې دخلکو دژوند حالت له سروی څخه په استفاده دليکوال محاسبې.

**۹ شکل:** دسيمې په اساس دغريبو او بېوزلو وګړو دسرشميرنې بهير





سرچينه:په افغانستان کې د ژوند دحالت د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کال سروی او په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کال په افغانستان کې دژوند د حالت له سروی څخه په استفاده دليکوال محاسبه.

۱۲ دافغانستان اسلامي جمهوريت اقتصاد وزارت (۲۰۱۵)

**په جنوب لویدیزه سیمه کې فقر او غربت ډیر زیات شو، خو سیمه ییز فقر او غربت له نورو جهتونو بدلون ونه موند.** جغرافیوي توپیرونه په افغانستان کې دفقر او غربت له څرګندو نښو او ځانګړنو څخه دی، لکه څنګه په افغانستان کې دغربت او فقر دحالت دتحلیل په مخکیني رپوټ کې وویل شول، ځیني سیمې – ځیني ختیځی، جنوب ختیځې او لویدیځې مرکزي وروسته پاتې سیمې په افغانستان کې دژوند دحالتونو په تحلیل او تجزیه کې دغربت او فقر له امله ډیرې زیانمنې شوې سیمې وګڼل شوې.د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو ترمینځ دفقر او غربت په حالت کې په منطقوي لحاظ کوم مهم بدلونونه مینځته رانغلل او وروسته پاتې سیمې نسبت نورو وګړو ته همداسې په غربت او بیوزلۍ کې پاتې شوې. جنوب لویدیځه سیمه په استثنایي ډول د سیمه ییزو مشخصاتو په برخه کې له بیلابیلو اړخونو څخه دیادښت وړ ګڼل کیږي.، چې په هغې دفقر او غربت (بیوزلۍ) حالت له ۲۸ سلنې څخه ۵۶ سلنې ته لوړ شو (۹شکل) .جنوب لویدیځه سیمه، چې پکې دنیمروز، هلمند[۱۳]، قندهار، زابل او ارزګان ولایتونه شامل دي، دتاریخ په اوږدو کې دزیاتو جګړو او هروګړي ته دزیاتو نړیوالو مرستو او نظامي عملیاتو شاهدان دي، په دې اساس دحیرانتیا وړ نه وه،چې فقر او غربت حالت ډیر په هغو سیمو کې زیات شو، چې دجګړې دزیاتوالي او خپریدنې او احتمالاً دنړیوالو مرستو کمښت یې دانتقال په مرحله کې تجربه کړ.

**۱۰ شکل:** د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو ترمینځ د ودې او پراختیا نښې نښانې موجودې دي.




**یادښت:** د نمو د ناخاپی لوړوالی محور د یو تن کلنی عاید مصرف د سلنی کچه ښایی کوم چه د عوایدو ویش د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ پوری په ګوته کوی.

سرچینه: په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ م کال کې دملي خطراتو او زیان منني دارزیابی ، په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کال په افغانستان کې دژوند حالت سروی او په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ م کال په افغانستان کې دژوند دحالت سروی څخه په استفاده دلیکوال محاسبې.

۱۳ په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ م کال پورې دهلمند ولایت په اړه د معلوماتو په کیفیت پورې اړوندو موضوعاتو کې برآورد نشته.


**په انتقالي دوره کې دژوند دحالت خرابوالي غریب او بیوزلي وګړي ډیر زیانمن کړل.** دزمانې په اوږدو کې په سوکالۍ او هوسایني کې بدلونونه ټولې کورنۍ په برابر ډول نه اغیزمنوي. له انتقال څخه دمخه مرحله کې، هغه مهال چې اقتصـــــادي وده دوامداره او پایښـــت لرونکې وه، ۲۰ سلنه ډیر شتمن افغانان دسوکالۍ او هوسایني نه برخمن وو- داسې چې دهغوی دلګښـــتونو منځنۍ کچه ارزیابي او وسنجول شوه، چې دهغوی وده ۹ سلنه وه، په داسې حال کې چې دافغانستان ۲۰سلنه ډیر غریب او بیوزلي وګړي دودې او پرمختیا ۲ سلنه کمښـــت سره مخامخ وو. په عین وخت کې په انتقالي مرحله کې دې ته ورته حالت او تصـــوير رامینځته شو. په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونوکې دهر تن د لګښـــــت اندازې په منځنۍ ډول په کال کې ۱،۷ سلنه تنزیل وموند. خو دغه تنزیل او ټیټوالی او په لاندې دویش په جدول کې په ځانګړې توګه ډیر زیات و (۱۰شکل).

په داسې حال کې چې ۲۰ سلنه نفوس په همدې مرحله کې دهر تن دلګښت ۴،۲ سلنه کمښـت سره مخامخ شول. د ډیرو شتمنو وګړو دکمښت اندازه یوازې ۲،۸ سلنه وه، چې دا کار یو ځل بیا دپېښو او زیانونو په وړاندې دغریبو او بیوزلو وګړو زیان منته تائیدوي.[14]


## دبې ځایه کیدنې بهیر او ځانګړنې

**په بیلابیلو جغرافیایي سیمو کې دجګړو زیاتوالی د داخلي بې ځایه شـویو شـمیر زیات کړ.** لکه څنګه چې په (شـکل ۱۱)کې ښـودل شوي دی، د داخلي بې ځایه کیدونکو شـمیر دزمانې په اوږدو کې مخ په زیاتیدو دی، چې دهغو ډیره لوړه اندازه په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۵ کلونو کې وه. برآوردونه څرګندوی ، چې په هره امنیتي پیښـــه (دتلفاتو) منځنۍ کچه، چې په یوه ولسـوالۍ کې رامینځته کیږي ۹ یا ۱۰نور وګړي جبراً د داخلي بې ځایه کیدونکو په شمیرکې زیاتیدل. په ټول افغانستان کې دبې ځایه کیدنې بهیر ځانګړنې دجګړې په جغرافیایي پراخوالي کې دزیاتوالي څرګندوي دی. (۱۲شکل) تقریباً ددرې وګړو څخه یو بې ځایه شوی په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کې په جنوب لویدیزه سیمه کې بې ځایه شـول. په ۲۰۱۴- ۲۰۱۵ کلونو کې په جنوبي، جنوب ختیځو او ختیځو ولایتونو کی د داخلي بې ځایه شویو شمیر زیات شـو. د نویو برآوردونو په اساس تقریباً ۱،۲ میلیونه تنه د ۲۰۱۶ کال دبې ځایه کیدنې په بیلابیلو پړاوونو (مرحلو) کې واقع وو،[15] چې هغوی په افغانستان کې انسـاني مرستو ته اړمن دي. د ملګروملتونو د همغږی دفتر د معلوماتو له مخې کابو ۲.۹ میلیونه افغان وګری په هیواد دننه بی ځایه شوی دی پدی وګرو کښی ۲۲ سلنو خپلو هیواد پری ښودلی دی.[16, 17]

۱۱شکل: بې ځایه شوي وګړي (نفوس) دبې ځایه کیدنې دکال په بیلوالی (په زرو)




۱۲شکل: دسیمو په بیلوالی سره د داخلي بې ځایه کیدنې ویش




سرچینه: دملګرو ملتونو دپناه اخیستونکو دعالي کمشنرۍ دمعلوماتو په له مخې دلیکوال دجزئیاتو په اساس.

۱۴ څلورم څېرکي ته دې مراجعه وشي.
۱۵ د ۲۰۱۷ کال دجنورۍ په میاشت کې ورځني ارقام . (وګورئ: http://www.unocha.org/afghanistan)
۱۶ دغه معلومات باید دتقریباً جامع شاخص په توګه په پام کې ونیول شي، ځکه چې یو شمیر پیچلتیاوې او خنډونه د داخلي بې ځایه کیدنو په سنجش کې عامل چاپیریال کې دواقعي مهاجرتونو او کوچیدنو او دبې ځایه شویو دراتګ په اړه دنویو او تازه معلوماتو دخوندي کولو له پاره شته دی. اسکمیدی ۲۰۱۶ ته مراجعه وکړئ. د ۲۰۱۳ م کال دجنورۍ او نومبر په مینځ کې د ۴۵۵،۱۴۴ تنو په شمیر وګړو خپل کورونه دجګړې له امله پریښې دی. (دملګرو ملتونو دفتر، افغانستان ، ۲۰۱۶م).
۱۷ له ۲۰۰۷څخه تر ۲۰۱۵ کلونو پورې په یوه ولسوالۍ کې د مشخصو کلنیو اغیزو پرمادیول باندې ولاړ معلومات دتاوتریخوالي او داستوګنو په اندازې پورې اړوندو معلوماتو سره سمون لري او ددې څرګندویي کوي، چې دجګړې پراخوالی دجبري مهاجرت لامل شوي دی. (مارویسن و مې ۱۹۹۴، لانزانو- ګراشیو ات ال، ۲۰۱۰)

**امنيتي ملاحظې هرهغه تصميم، چې دحرکت او برخليک (سرنوشت) له پاره دافغانستان په ښارونو کې، چې دبې ځايه کيدونکو دزياتيدونکي شمير دجذبولو شاهدی دی، اغيزمنوي.** په جنګي شرايطو کې بې ځايه کيدنه سربيره پردې چې دمهاجرت له پاره دخپلې خوښې له تصميم څخه سرچينه نه اخلي دوحشيانه بريدونو نتيجه هم وي، لکه څنګه چې په اړوندو ليکنو کې وويل شول،[18] داقتصادي ستونزو دفشار (په اصلي ځای او مقصد يا ورغلي ځای کې ددندې او مزد (اجورې) ترمينځ توپيرونه) له تاوتريخوالي او ناامنۍ سره يو ځای وي. سربيره پردې چې کورنۍ په څرګنده توګه( امنيتي توپيرونه )په اصلي او ورغلي ځای کې په پام کې نيسي، خو په افغانستان کې دامنيتي او اقتصادي ملاخظاتو څخه هر يو جلا جلا هر يو مهاجر چې داقتصادي فشارونو په اساس هجرت کوی او بې ځايه شوې کورنۍ مجبوروي چې ښاري مرکزونو ، په ځانګړې توګه دافغانستان پلازمينې( کابل )ته پناه يوسي.[19] په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کلونو کې په افغانستان کې دژوند حالت سروې سند (۲باکس) په اساس ۴۸،۱ سلنه داخلي بې ځايه شوې کورنيو او ۴۶،۶ سلنه راغلي کورنيو دسروې به مهال په ښاري مرکزونو کې ژوند کاوه، په داسې حال کی چې د ښاري نفوس ملي کچه ۲۴،۱ سلنه ده.

### ۲ باکس په افغانستان کې دژوند دحالت دسروې دبې ځايه شويو معلوماتو ننګونې او ستونزې

په افغانستان کې داخلي او نړيوالي بې ځايه کيدنو تحليل او تجزيه له ډير وخت نه تراوسه دجامع او باور وړ معلوماتو دنشتون له امله محدوده ده، څو ځله څيړنې، زياتره په کيفي ډول، په ځانګړې توګه دښاري ساحو متمرکزې ترسره شوې، خو دڅيړنې دميتود پورې اړوند توپيرونه او نمونې دانتخاب له پاره يو مناسب چوکاټ نه شتون، دپام وړ نفوس او کورنيو دقيق انځور او ځانګړنې برابرول يې محدود کړي دی. په افغانستان کې دژوند حالت سروی، چې په داخلي کچه يوه نمونه وی سروې بللې کيږي کولی شي په افغانستان کې دبې ځايه شويو دموضوعاتو څرګند انځور برابر کړي.

په ځانګړي ډول ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو دراستنيدونکو او داخلي بې ځايه شويو کورنيو دپيژندنې له پاره په پيښو او حوادثو پوازې اړوند ماديول (۹ماديول) کې راټولو شويو معلوماتو دارجاع له لارې او په ځانګړې توګه دمهاجرت دوو جامعو ماديولونو (۱۲ او ۱۳ ماديول) راټول شوي معلومات برابروي:

- ماديول پر (پيښو او حوادثو ) متمرکز و او په افغانستان کې دننه ولايتونو کې بې ځايه شويو او راستنو شويو کورنيو په تاريخ پورې اړوند معلومات د اصلي ولايت، ولايت او هيواد، دمهاجرت او راستنيدونکي ځای، دبې ځايه کيدو او راستنيدو کال او نيټه پکې شامل دي.
- په ۱۲ ماديول کې دانفرادي مهاجرتونو تاريخ، داستوګنې دځای په اړه دمعلوماتو راټولول (ولايت، هيواد، ښاری ياکليوالي سيمې) اودوه کاله له سروې څخه دمخه پورې اړوند درج دي. په هغه صورت کې چې داستوګنې ځای له دې مواردو څخه په هر يو کې له فعلي استوګنې له ځای څخه توپيرولري، له ځواب ورکوونکی څخه پوښتنه کيږي چې دخپل مهاجرت انګيزه (اقتصادي، کورنۍ، جګړه/ تاوتريخوالی (خشونت) او نور) بيان کړي.
- ۱۳ ماديول دکورنۍ پر هغو غړو مشتمله ده ، چې له سروې څخه ۱۲ مياشتې دمخه په اصلي استوګنځای کې پاتې وی او هر وګړي چې اوس له کورنۍ څخه لرې دی او دهغه دجنسبت، عمر ، داستوګنې ځای (دافغانستان دننه او يا له افغانستان څخه بهر هيوادونو کې) دمهاجرت دليلونه (اقتصادي، کورني، جنګ جګړه / تاوتريخوالی او نور) په هکله معلومات برابر کړي.

له دې بيلابيلو ماديولونو څخه دمعلوماتو په راټولولو سره دمهاجرتونو )کورني او بهرني يا نړيوالو مهاجرتونو( په اړه معلومات ترلاسه کيدای شي.

په اوس وخت کې نړيوال بانک داحصايې له مرکزي ادارې سره په افغانستان کې دمهاجرت او داخلي بې ځايه کيدنې په اړه دمعلوماتو په راټولو کې مرسته کوي. په ځانګړي ډول په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال په افغانستان کې دژوند دحالت دمعلوماتو تحليل او تجزيې دښه والي پر مختګ درې مهمې ساحې په نښه کړي او پيژندلي دي، چې هغه دادي: (۱) دکورنيو دمهاجرتونو او دځانګړو مهاجرتونو دتاريخ دتحليل او تجربې ترسره کولو له پاره دسروې په خاطر پوښتنليک (۲) دمهاجرت دماديول ښه والی، په ځانګړي توګه دکورنيو دهغو غړيو مشخصيات، چې له کورنۍ څخه ليرې پاتې دي. او (۳) دهغې طرحې ښه والی چې پکې دروانې ښاري کيدنې بهير ښه منعکس شوی وي او په نمونه طرحه کې (دبې ځايه کيدنې پورې اړوند برخه) په ځانګړي توګه په طرحه کې دشاملولو امکان.

---

۱۸ کزيکاوکيس- کاتوس (۲۰۰۹)، اباني‍ز (۲۰۱۴) ته مراجعه وکړئ.

۱۹ دکابل نفوس په ۲۰۰۱ کال له ۵۰۰،۰۰۰ تنو څخه په ۲۰۰۷ م کال کې ۳ ميليونو او په ۲۰۱۳ م کال کې له ۴ ميليونو څخه زيات و (دکابل اقتصادي ، ټولنيز او دموګرافی سروی) دکابل دودې او پراختيا ستر دليل کډوالو راستنيدونکي، چې له پاکستان او ايران څخه راتلل، و، چې دطالبانو له سقوط څخه وروسته له پورته هيوادونو او ځينو ولايتونو څخه ترسره شول، دکابل داقتصادي ټولنيزې او دموګرافۍ سروې په اساس په ۲۰۱۳م کال تقريباً ۵ سلنه کورنۍ، چې دکابل په ولايت کې يې ژوند کاوه (۱۷۰ زره تنه) داخلي بې ځايه شوي وو، چې دافغانستان دځينو زياتو بې ځايه کيدونکو وګړو له ولسواليو څخه له ۲۰۰۷ – ۲۰۱۳ م کال پورې راتلل. په داسې حال کې چې ۳۱ سلنه بې ځايه شوی د (۱۰ ميليونه تنه) راستانه شوي مهاجرين يا اقتصادي مهاجرين وو، چې دپاکستان او ايران له هيوادونو څخه راستانه شوي وو. په کلي ډول دکابل دولايت له دريو تنو څخه يو هغه مهاجر وو چې له بهر او يا دافغانستان له نورو ولايتونو څخه راتلل . (داحصايې مرکزي اداره ، ۲۰۱۶م).

**دداخلي بې ځایه شویو په مینځ کې غریب او بیوزلي وګړي له ټولو زیات او په ځانګړي توګه له بې ځایه کیدنې وروسته سمدلاسه زیان مننونکي وي.** جګړې او نښتې چې دبې ځایه کیدو لامل شوی دی، په کلي توګه د فقر او غربت احتمالي خطرونه ورسره ملګري دی. دپانګې او شتمني له لاسه ورکول، دشبکو ګډوډیدل او دانساني پانګې له لاسه ورکول ټول هغه عوامل دي، چې دجبری بې ځایه شویو کورنیو دغربت او بیوزلۍ په مقابل کې دزیان منلو له زیاتوالي سره مرسته کوي. [20] دفقر او غربت په وړاندې زیان منل او ستونزې په افغانستان کې زیاتې شوي دي او د داخلي بې ځایه شویو کورنیو ترمینځ دفقر او غربت اندازه دغربت دکرښې لاندې دنفوس له ټولې اندازې سره په مطابقت کې واقع ده. په هرحال پرداخلي بې ځایه شویو باندې خطر داستوګنې د ځای له کنترول څخه وروسته (ښاري استوګنځای دکلیوالی استوګنځای په مقابل کې) داستوګنې په اوسني ځای کې داستوګنې موده او دا چې هغوی په بهر کې له بې ځایه کیدنې وروسته خپل هیواد ته راستانه شوي دي (ددویم ځل بې ځایه کیدنه) رامینځته کیږي. هرکله چې دغه عوامل په پام کې ونیول شي په ډیر احتمال داخلي بې ځایه شوې کورنۍ دافغانستان له نورو وګړو څخه ۱۰,۵ سلنه په منځنۍ کچه ډیر غریب او بیوزلي دی اوله بې ځایه کیدنې وروسته یې سمدلاسه زیان مننه زیاتیږي.

(یوازې په ۲۰۱٦ کال کې شاو خوا ۲۵۰ زره تنه غیر قانونی مهاجرین او ۳۷۰ زره تنه قانوني مهاجرین له پاکستان څخه هیواد ته راستانه شول او ٤٦۰ زره تنه ناقانونه پناه اخیستونکي نور له ایران څخه راستانه شول. ۲۱ په داسې حال کې چې در استنیدونکو پسو کاله او هوساینې په هکله ډیرلږ معلومات شته، موجوده نړیوال شواهد څرګندوي چې، د هغو راستنیدنه او نوې ځای پرځای کیدنه (څه په نویو ځایونو او یا په خپلو اصلي استوګنځیانو کې) اساسا بازار او کار کسب ته دهغوی په لاس رسۍ ولاړه ده ۲۲ دکمزوري اقتصادي حالت او پراخې بیکارۍ په ودې سره احتمالاً دراستنیدونکو کورنیو او وګړو په لوی بهیر باندې په نویو ځای په ځای کیدونکو ساحو کې د جذب ظرفیت، اقتصادي رقابتونه او سیالۍ، دټولنیز ثبات ګواښ او بالاخره دفقر او غربت په اندازې باندې ډیر زیاد فشار وارد ویږ.)[23]

۲۰ البانیز، قبل از ظهر، و مویا (۲۰۱۰)
۲۱ یوناما (۲۰۱۷)
۲۲ نړیوال بانک (۲۰۱۶)
۲۳ نړیوال بانک، دافغانستان په چارو کې دملګرو ملتونو دسازمان عالي کمشنري، (۲۰۱۶م کال).

## دویم څپرکی

# په افغانستان کې دکار کسب او دندو کړکیچ (بحران)

**لنډیز:** محدوده اقتصـادی وده او پرمختیا او پرغوښتنو دوامداره فشـار په افغانسـتان کې دکار بازار ننګوني او چیلنجونه ډیر زیات کړي دي. په ۲۰۱۳ـ ۲۰۱۴ کال له ټولې ۴۶ سلنې بیکارو څخه ۲۲،۶ سلنه دکار ځواک خوانان افغانان وو. دځوانانو بیکاري، په ځانګړې توګه نارینه ځوانان یوه ځانګړې اندیښـــنه ده، ځکه امکان لري چې له هغوی څخه په جګړه او په نورو ټولنیزو مســـایلو پورې اړوندو موضـــوعاتو کې اســـتفاده وشـــي. په ۲۰۱۳ـ ۲۰۱۴ م کال کې د ۵۰۰،۰۰۰ په شـمیر نارینه ځوانان بیکاره وو، چې دهغوی زیاتره (۷۲ ســـلنه) په کلیوالو ســـیمو کې ژوند کوي او هغوی یا له ښـــووني او روزنې څخه بې برخې وو او یا دا چې له لومړنیو زده کړو برخمن وو. د کار کســـــب او دندو ستونزه او بحران په ساحوي سیمو کې زیات و او بې له کوم تناسب څخه هلته دخدمتونو په سکتور کې دلږ مهارت او لږ سـواد لرونکي ډیر زیانمن شـول، چې داخلي بې ځایه شـوي زیاتره له کلیوالو سـیمو څخه ښاري مرکزونو او یا هم له افغانســـتان څخه بهر هیوادونو ته زیات کړی. دافغان کورنیو له پاره مهاجرت داقتصـــــادي سرچینې په توګه او دبازار د محدودیت له مینځه وړلو او رفع کولو له پاره ګټل کیږي.

## په افغانستان کې دکار کسب یا دندې ستونزه او ننګونه


داقتصادي ودې کمښت ددې سبب شوی، چې په افغانستان کې ډیر دکار په زیاتوالي تمرکز وشي. دافغانسـتان په اقتصـاد کې دا هڅه او هلې ځلې کیږي، چې دخپل ورځ په ورځ کار ته زیاتیدونکي ځواک دځای پرځای کیدو له پاره کار کســـــبونه او دندې رامینځته کړي. د نســـل دتولید اندازې ته په پاملرنه، چې همیشـــه به هر ښځه له پنځو څخه زیات ماشومان لري، دافغانســـتان نفوس په ډیرې چټکۍ سره زیاتیږي[۲۴] چې دا په جنوب آسیا کې دځوانانو دځواک دحجم ډیر زیاتوالی دی[۲۵]. دافغانســــــتان د دموګرافی ځانګړنې دکار، بازار او عامه مالي موضوعاتو ته ستر چیلنجونه او ننګوني متوجه کړي دي، په ځانګړې توګه دوابســـتګۍ او ټرلتیا اندازې دسیما موضوع دیره راکمه او محدوده کړې ده، چې دا کار د ودې، پرمختیا او پانګه اچونې مخه نیســـي او په عین حال کې دټولنیزو خدمتونو په ځانګړې توګه روغتیا او ښوونه روزنه باندې دلګښـــــتونو دمحدودیدلو سبب ګرځي. ضروري ده چې هر کال دکار په بازار کې په تخمیني توګه ۴۰۰،۰۰۰ کار کسـبونه او دندې رامینځته شي، ترڅو چې نوي کار ګران دکار کســـب او دندې خاوندان شي، چې دامسله داقتصادي ودې په نشتوالي او دعمومي پانګه اچونې له پاره د محدودې بودجې شتون یو ستره ننګونه او چیلنج ګڼل کیږي.[۲۶]

۲۴ دنویو اټکلو په اساس په کلي دول په افغانستان کې د نسل تولید اندازه ۵،۳ ماشومان دهرې ښځې له پاره دی (په افغانستان کې کې د دموګرافي او روغتیا سروی۲۰۱۵) افغانستان دختیځ تیمور په څنګ کې له افریقا څخه بهر یو ازینې هیواد دی چې په هغې کې دنسل دتولید کلی اندازه دهرې ښځی له پاره له ۵ څخه زیات ماشومان دي.( دملګرو ملتونو دسازمان ټولنیزو او اقتصادي چارو اداره ، ۲۰۱۵)

۲۵ دملګرو ملتونو دسازمان دټولنیزو او اقتصادي چارو دادارې (۲۰۱۵م کال) دمعلوماتو له مخې افغانستان د اوګاندا او چاد له هیوادونو وروسته دریم هیواد دی، چې په نړۍ کې یې ځوان ځواک زیات دی. داسې چې له پنځو تنو څخه یو تن په ۱۵ او ۲۴ کلونو عمر کې دی. داسې هیله کیږي چې دافغانستان نفوس په ۲۰۱۰م کال کې له ۲۸،۴ میلیونو څخه په ۲۰۵۰ م کال کې ۵۶،۵ میلونو ته زیات شي.

۲۶ لکه څنګه چې اټکل کیږي په خوشیبنانه ودې او په افغانستان کې دکار په بازار کې دکار دشدت دسناریو ګانو وده به تر ۲۰۲۷ م کال پورې هم دکار دعرضې دودې سره دمقابلې وړتیا ونه لري (هولزمن، ۲۰۱۶م کال).

**۱۳شکل :** دهغو ځوانانو ډله چې په مرکزي او جنوبي آسیا کې ژوند کوي




سرچینه : په افغانستان کې د ژوند دحالت سروی سند (۲۰۱۳- ۲۰۱۴)، (افغانستان) ، دملګرو ملتونو دسازمان داقتصادي او ټولنیزو چارو اداره (۲۰۱۵م کال)

## ۳ باکس دکار دبازار شاخصونو پیژندنه (تعریف)

دکار دبازار شاخصـــــــونه چې په دې ځکې ځیرکې ورڅخه استفاده کیږي رسمي تعریفونه او پیژندني لري. له رسمي تعریفونو څخه جزوی انحراف توضیح شو، ترڅو د دوو کلونو سروې ترمینځ پرتلنه ممکنه کړي.

**دکار ور عمرلرونکي وګړي:** ټول د ۱۴ کاله او له هغې پورته عمر لرونکي وګړي.
**دکار ځواک:** دکار ور ټول عمر لرونکي وګړي، چې فعال او ځواکمن وي، دمثال په ډول: دکار کسب لرونکی او بې کاره.
**دکار دځواک دګډون اندازه:** دکار ځواک دکار ور عمر لرونکي وګړو دیوې برخې په توګه.
**دکار کسب لرونکي:** دکار ور عمر لرونکي ټول وګړي چې په یوه اونۍ کاري موده کې به اجوره لرونکي کار کسب او په خپل کار کسب باندي لږ ترلږه اته ساعته بوخت وي.
**نیم وخت کار کسب لرونکي:** ټول ۱۴ کلن او له هغې پورته عمر لرونکي وګړي چې یوه اونۍ کاري موده کې کار کسب نه لري، خو لږ ترلږه یې ۴۰ ساعته کار کړی دی. (یادښت: په رسمي تعریف کې دکار شتون او ورته لاس رسی / کار ته تمایل او علاقه په اضافي ساعتونو کې هم شامليږي.)

**بیکاره او کار کســــب نه لرونکي:** ټول دکار ور عمر لرونکي وګړي، چې دیوې اونیزې کاري هفتې په دوران کې (۱) کارنه لري او یا یې له ۸ ساعتو لږ کار کړی وی او (۲) دکار په لټه او هڅه کې وي.
**بې ګټې کار:** ټول دکار ور عمر لرونکي وګړي، چې کار نه لري او یا نیم وخت کار لري.
**غیر رسمي کار کسب:** ټول دکار کسب ور عمر لرونکي وګړي چې (۱) چې خپل کار کسب لري (۲) ورځنۍ کارګر او (۳) دکورني کار ګرانو سره مرسته او همکاري کوونکي..


**دنویو برآوردونو له مخې ، ۱،۹ میلیونه وګړي کار کسب نه لري، چې په هغوی کې ځوانان او ښځې دکار کسب دنشتوالي له امله زیات بحران او ستونزې سره مخامخ دي** ((بیکاري او اقتصـــادي غربت او فقر)) هغه ستره ستونزه ده، چې دافغانســـان له خوا په زیاترو نظر سنجونو کې، چې په دې وروستیو کې ترسره شوی، په نښـــه شوې دي.[۲۷] له برداشت څخه شواهد دکار دبازار دناوړه فرصتونو په هکله ملاتړ کوی. په افغانســـتان کې دژوند دحالت سروی دمعلوماتو په اساس په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ م کال کې ۲۲،۶ سلنه دافغانانو کاري ځواک له کار کسب او دندې بې برخې دی.

۲۷ داسیا بنسټ ویب پاڼي (۲۰۱۳- ۲۰۱۴)، دافغانستان دخلکو سروې ته په دې لاندې پته http://asiafoundation.org/where-we-work/afghanistan/survey/ مراجعه وکړئ.

او تقریباً له هرو څلورو تنو څخه یو تن دکار په بازار کې ګډون کوي او یا ۱،۹ میلیونه تنه په اونۍ کې له ۸ ساعتو څخه لږ کار کوي او یا دا چې کار کسب او دنده نه لري، او په خپل ټول ځواک دکار کسب دپیدا کولو په هڅه او لټه کې دي. بیکاري او دکار کسب نشتوالی په ځانګړی دځوانانو ترمینځ[۲۸] ( ۲۷,۹سلنه) او په ښځو کې (۳۶،۸) زیات دي. تقریباً په ملي کچه له نیمایي څخه زیات بیکاره وګړی له ۲۵ کالو څخه راښکته عمر لري. (۴۵،۶ سلنه)، چې دغه کار په افغانستان کې دکار کسب دپیدا کولو له پاره مخ په زیاتیدو دی، چې په عین وخت کې له هغه اقتصادي بحران سره مقابله ده، چې دا انتقالي مرحلې په دوره کې رامینځته شوی دی.


**دځوانانو بیکاري او کارکسب نشتوالی په ښاري او کلیوالو سیمو ترمینځ دښکاره توپیرونو او پیچلې پدیدی څرګندوی دی.**
دځوانانو دبیکارۍ او کار کسب نشتوالی ستونزې ته رسیدنه ددوی پر ځانګړنو او دهغو دستونزې پر اندازې پوهیدنه او درک غواړي. ۲۰۱۳-۲۰۱۴ م کال ته په پاملرنه ۸۷۷ زره ځوانانو کار کسب نه درلود. دوه پر دري نارینه ځوانان دي، شاوخوا ۵۰۰ زره او له پنځو څخه څلور له دغو نارینه بې کاره ځوانانو څخه په کلیوالي سیمو کې ژوند کاوه (۱۴شکل). دبیکاره ځوانانو دځانګړنو په اړه څرګندتوپیر شته دی. دا په داسې حال کې دی، چې بې کاره نارینه ځوانان په ښاري سیمو کې په زیات احتمال له ښووني او روزنې څخه برخمن وي. ۴۸،۵ سلنه ثانوي یا له هغې لوړه زده کړې لري، نور پاتې په کلیوالي سیمو کې شاملیږي، چې په هغې کې ۴،۱ سلنه بې کاره نارینه ځوانانو رسمي زده کړې نه درلودې او ۳۷،۱ سلنه بې سواد او له لیک لوست نه بې برخې دي. (۱۵شکل) .

**۱۴شکل: دځوانانو بې کاري او دکار کسب نشتوالی دجنسیت او داستوګنې دځای په اساس**




سرچینه (منبع) : په افغانستان کې د ژوند حالت سروې (۲۰۱۳-۲۰۱۴م کال) دسروې سند څخه په استفاده دلیکوال محاسبې

**۱۵شکل: دبې کاره نارینه ځوانانو د ښووني او روزنې ځانګړنې داستوګنې دځای په اساس**




سرچینه (منبع) : په افغانستان کې د ژوند حالت سروې (۲۰۱۳-۲۰۱۴م کال) دسروې سند څخه په استفاده دلیکوال محاسبې

۲۸ دملګرو ملتونو دنړیوال سازمان دتعریف په اساس، ځوانان هغه وګړي دی، چې عمرونه یې د ۱۵ او ۲۴ کلونو ترمینځ دی. دملګرو ملتونو دسازمان دتعریف اساس دځوانانو تعریف د افغانستان دکاری سن له تعریف سره همغږي او هماهنګ کولو (۱۴کلن او له هغه پورته سن وګړي) په دې لړ کې دې نتیجې ته رسیږو چې ځوانان هغه څوک دي، چې عمر یې د ۱۴ او ۲۴ کلونو ترمینځ وي.

**دهیواد دټولنیز – اقتصـــادي ثبات رامینځته کیدل او دافغانســـتان دکار کســـب ننګونه (چیلنج) یو په بل پورې اړوند دی.** نوي معلومات څرګندوي، چې دځوانانو زیاتوالی دجګړو دپیښـیدو او په وحشـیانه ډول دډیریدل او اقتصــادي ستونزې یو له بله متقابلي اړیکې لري او تاوتریخوالی (خشـونت) له وړاندې نه علاقمندي او سیاسي بې ثباتي دغه اړیکه لاپســې ټینګوي (۴باکس). په لوړه کچه دکار نشـــــتوالی، دودې او پرمختیا نه شتون، دوام لرونکی جګړه، له پاکســــتان او ایران څخه دافغان مهاجرینو پراخ راستنیدونکی بهیر په هیواد کې دکارګرانو دجذب وړتیا او ثبات ډیر محدودوي او زیان ورته رسوي.

### ۴ باکس و ځرنګوالی، د کار د مارکیټ ارخونه او تاوتریخوالیګرد و

نریوال شواهد ښایی چه ټول هغه هیوادونه چه د او فشـارونو شکل یی د افغانســتان ته ورته وی د تناز عاتو ښکاروی. د کورنیو جنګیالیو سره د بهر څخه مرسته کیدل، د هیواد د پولو په اوږدو کښی غیر قانونی تګ راتګ، شدید فساد، نسلی توپیر، او د دولت لخوا د طبع ایز د شتون په اروند د عامو خلکو نظر. د افغانستان د وګرو مختلف ارخونه او د کار کموالی د ثبات به هکله تشویشونه زیات کری دی. تازه مطالعات ښایی چه ځوانان و کورنی تاوتریخوالی تع مخه کری ده. یوی تازه څیرنی ښوودلی دی چه د ۱۹۵۰ او ۲۰۰۰ د تاوتریخوالو او ځوانانو تر مینځ خاصه اړیکه لیدل کیژی (اوردل، ۲۰۰۴). یو هڅیرنه ښایی چه په کال ۱۹۹۰ کی تر سره شویده ښایی چه ټول هغه هیوادونه چه ځوانان یی ۴۰ سلنه جوړوی زیات مدنی تاوتریخوالی تجربه کوی (Cincotta et al., ۲۰۰۳)
څیرنه همدارنګه ښایی چه د ځوانانو او تاوتریخوالی تر مینځ اړیکه د اقتصـادی کمزورتیا او بی کاری په سبب لازیاته کیژی. ټول هغه هیوادونه چه په ۱۹۹۰ کال کی یی زیات تاوتریخوالی ډیر ځوانان یی لـرل د ځوانانو د بـی کاری کچه یدی هیوادونو کـی د بالغانو په اندازه د دریو څخه تر پینځو پوری لوړه وه.
(Cincotta et al., ۲۰۰۳)
ټول هغه هیوادونه چه زیاته اندازه نوی ځوانان لری زیاته بی کاری ممکن ځوانان د سیاسی بنسټ ایزو کارونو لور ته و هڅوی.
(Nichiporuk, ۲۰۰۰).
د ځوانانو ډیره اندازه او همدارنګه ددوی بی کاری تر هګرو سازمانونو ته ددوی د ګمارنی لار هواروی.
(Lia, ۲۰۰۵; Urdal, ۲۰۰۶).

### ۵ باکس دبهیر دتجزیې، تحلیل او پرتلنې وړ موضوعات

په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کال په افغانســــتان کې دخلکو دژوند حالت سروی په ښتنلیک کې بدلونونه په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال دخلکو دژوند دحالت سروې او ۲۰۱۳-۲۰۱۴م کال په افغانستان کې دخلکو دژوند سروې دتحلیل او تجربې بهیر پیچلی او ستونزمن کوي، په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال په پوښتنلیک کې ستر توپیرونه په ښنــــــه او ښودل شوي وو، چې په هغو کې :(۱) دښې نړیوالی کړنلارې په اساس دکار دبازار دحالت په اړه دمعلوماتو راټولو د بلنې او فراخوان موده ((له سروې څخه یو میاشت دمخه)) چې په ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ م کال کې ورڅخه استفاده شـوې وه. له ((سروې څخه یوه اونی دمخه)) باندې بدلون وموند او (۲) دکار کسب په اړه دڅیرنیزو پوښتنو شمیر او دغور او دقت اندازې ډیر کمښت وموند، چې همدا کار دکار له بازار سره په ډیر کمزورې تړاو دکار دبیلابیلو څواکونو ، دبیلابیلو اضافو په ګډون په ځانګړې توګه دځواني طبقې، لویانو او ښځو دپامه غورځولو او په کمه ستر ګه کتلو لامل او سبب شو.


په داسې حال کې چې په ۲۰۱۱۳ – ۲۰۱۴ م کال د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال پورې اړوند دمعلوماتو راټولولو دفراخوان او بلنې ((له سروې څخه یوه اونی دمخه)) ته بدلون وموند، ټولې هغه څیرنیزې او تحقیقاتي پوښــــــتني چې په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کال کې دمعلوماتو راټولولو له پاره ورڅخه استفاده شوې وه، بیا معرفي شوې، ترڅو هغه ستونزې چې دکارګرانو دبیلابیلو ددې بدلونونو په نتیجه کې دکار دبازار دبهیر تجزیه او تحلیل ډیر محدودیږي او په خاص مفهوم یوازې نارینه بالغو وګرو (له ۲۵ څخه تر ۵۰ کلونو پورې عمر لرونکو) ته منحصــــر شوې، چې دا دکار په بازار کې دګډون کوونکو دزیاتې اندازې چې دسروې دکال په پام کې نیولو پرته تقریباً په سلوکې ۱۰۰٪ برخه جوړوی.

یادښت: دپرتلنې وړ موضوعاتو په اړه دبحث په هکله دزیاتو معلوماتو له پاره دافغانســـتان داسلامي جمهوریت داقتصـــاد وزارت (۲۰۱۵) او (۲۰۱۶) په پته مراجعه وکړئ.


## دکار دبازار بهیر

**هرکله چې موږ دبیکارۍ او کار کسب نه لرلو بهیر ته وګورو دکار بازار حالت لاپســـي خرابیږي.** (۲باکس) په ملي کچه دځوانانو دکاري ځواک بې کاري په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۴ کلونو کې درې برابره له ۴ سلنې څخه ۱۲،۹ ســلنې ته زیاتوالی موندلی دی.[۲۹] -.دبې کارۍ زیاتوالي او کار کسب نشــتوالي، په ځانګړې توګه په ښاري سیمو کې زیات شوی دی. لکه څنګه چې تثبیت شوي دي دانتقال له دورې نه دمخه ډیره پرمختیا او پراختیا په همدې کلیوالو سیمو کې رامینځته شوې وه.(۱۶شکل) دانتقال په مرحله کې د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو ترمینځ ډیره وده او پرمختیا، چې ترسره شوې وه په ځانګړې توګه په کلیوالو ســیمو کې له منځه ولاړه، وروســته له هغې چې له انتقال څخه دمخه مرحلې په وخت کې کلیوالي بیکاري او دکار کسب نشــتوالی له ۲۰،۴ سلنې څخه ۹،۷ سلنې ته راټیټ شو. (۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۱۲ پورې) دزیاتوالي اندازه په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې لوړه شوه[۳۰] او ۲۶ سلنې ته ورسیده.

**۱۶ شکل:** د (۲۵- ۵۰) کلونو ترمینځ دنارینه بالغووګړو دکاري ځواک دبې کارۍ او کار کسب نشتوالي بهیر




**۱۷ شکل:** دنارینه ځوانانو دکاري ځواک دنیم وخت کار کسب




سرچینه: د ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ م کال دژوند دحالت سروې، ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کال دژوند حالت سروې او د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ کال دملي زیان منني او خطراتو ارزونې څخه په استفاده دلیکوال محاسبې.

**دنیمه وخت کار کسب خرباوالي دبیکارۍ زیاتوالی او دکار کسب نشتوالی له ځان سره درلود.** نه یوازې دا چې دکار کسب او دندې پیدا کول ډیر مشــکل او ستونزمن شوي دي، چې دنیم وخت کار کسـب خطر – هغه ځوک چې لږ تر لږه ۴۰ ساعته کار نشـــي پیدا کولی، په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ م کلونو کې ۲۱ سلنه زیاتوالی موندلی او له ۳۰،۷ سلنې څخه ۳۷،۲ سلنې ته لوړ شوی دی.[۳۱] په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کال یوله دوو نارینه ځوانو افغانانو څخه ددې له پاره چې اصلاً یې کار کسب نه درلود او یا نیم وخت دنده یا کار کسب یې درلود، ځانته یې یو ګټور کار کسب نشو پیدا کولی.


**دبیکارۍ زیاتوالی او دکار کســب نشــتوالی په ځانګړې توګه کلیوالو سیمو کې دکار کســب له منځه تللو سره ملګرې و.** دودې او پرمختیا ســـتیدل د افغانســـتان ورځ تر ورځې زیاتیدونکې کارۍ ځواک دځای پرځای کیدو له پاره دنویو کارکســـبونو او دندو دامینځته کیدو مخه نیوله، خو دنظامي ځواکونو کمښت، دمرستو کمښت او زیاته ناامني ددې لامل شوه، چې دنارینه ځوانانو طبقه دانتقال له مرحلې نه دمخه په لومړیو کې خپل کار کســــــبونه له لاسه ورکړي، لکه څنګه چې په (۱۸ شکل) کې وښودل شول د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ او ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کلونو ترمینځ د ۴۷۱زرو په شمیر کار کســـبونه رامینځته شوي وو، چې د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو ترمینځ د ۳۶۷زرو په شمیر کار کســبونه له لاسه ولاړل. په کلي ډول په انتقالی دوره کې له لســو څخه ۹ له لاسه وتلي کار کســـبونه او دندې په لرې پرتو کلیوالو سیمو کې دي. دکلیوالو سیمو دکار کســـب بحران او دامنیتي حالت خرابیدلو افغانی کورنۍ ښاري سیمو او مصونو ځایونو ته دکار پیدا کولو په هجرت کولو اړ کړې. دتولید نسل دانداز ې دتیټوالي ښاري نفوس په کلیوالي سـمیو کې ۲،۲ سلنې نفوس دزیاتیدو په پرتله (په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې) په اټکلي توګه ۱۰ ســلنه (اویا ۶۱۲ زره تنه) زیات شو. له کلیو څخه ښار ته مهاجرت کیدای شي دبې کارۍ په زیاتوالي او ښارۍ سیمو کې دکار کســـب او دندو له نشتوالي سره مرسته کړې وي.

۲۹ په داسې حال کې چې کیدای شي دتجزیې او تحلیل قبلول او منل کمزوري وي، دیادونې وړ ده چې مشابه بهیر او روند هغه وخت راڅرګندیږي، چې موږ دنارینه ځوانانو دبې کارۍ مسلې ته وګورو. په ځانګړې توګه دځوانانو بې کاري له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې له ۲۰،۵ سلنې څخه په ۲۰۱۱ کال کې ۱۰،۵ او په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې ۲۷،۹ سلنه زیاتوالی وموند.

۳۰ سره ورته او مشابه بهیر هغه مهال رامینځه کیږي، چې دکار دشتون او اضافه کارۍ ته علاقمندي په اړه معلومات، چې په افغانستان کې د ژوند حالت له ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کال سروې ، ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کال په افغانستان کې دژوند حالت سروې کې راټول شوي، په څرګندډول په پام کې ونیول شي. له دې تعریف څخه په استفادې نیم وخت دنده او کار کسب له ۱۷،۹ څخه ۲۱،۲ سلنې ته زیاتوالی وموند.

۳۱ د ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۱۲ کلونو ترمینځ دخدمتونو په سکتور کې کار کسب تقریباً ۳،۲۷ سلنه کمښت وموند دخدمتونو په سکتور کې په ۲۰۱۱ کال ۸۰۸ زره نارینه کارګرځوانان د ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۱۲ او ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې د ۱۱،۱ میلونه په پرتله ۸۳۵زره کارګران دکار له پاره استخدام کړي وو.

**۱۸شکل: دسکټور په اساس په کار کسب کې بدلون، نارینه ځوانان (۲۵ ـ ۵۰)**





سرچینه (منبع) : دژوند دحالت سروی ۲۰۱۳- ۲۰۱۴، د۲۰۱۱- ۲۰۱۲م کال دژوند دحالت سروې او د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸کال دملي خطر او زیان منني ارزوني او ځیرنې څخه په استفاده دلیکوال محاسبې.

**دکار کسب بحران زیاتر دخدمتونو په سکټور کې کار کسبونه زیانمن کړل.** دانتقال له مرحلې څخه دمخه دوره ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کال پورې دخدمتونو به سکټور کې دنارینه ځوانانو کار کسب او دندې ۳۳ سلنه زیاتوالی وموند. خو انتقالي دوره بیا د خدمتونو په سکټور کې په متعادل ډول دکار کسب دډیر کمښت لامل وګرځید. همداسې په دې سکټور کې دکار کسب اندازې د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ کال په نسبت کمښت پیدا کړ. (۱۸شکل) ساختماني سکټور یوازینی سکټور وچې دانتقالي مرحلې په دوران کې هلته کار کسب په دوامداره توګه وده او پراختیا وموندله. په داسې حال کې چې دکرنې په سکټور کې کار کسب همیشه دکمښت په حال کې و.

**په ټول افغانستان کې دکار کسب او دندو بحران اندازه یو ډول او یو شان نه ده.** دکار کسب د دندو بحران کلیوالي سیمې په بې تناسب ډول زیانمنې او اغیزمنې کړی، خو ځینې کیلوالي سیمې دنورو په پرتله ډیرې زیانمنې شوی. د ځوانانو بې کارۍ او کار کسب نشتوالي اندازه ډیره په ختیځ زون کې زیاته شوه، چې په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ م کال کې دا اندازه له ٦,۸ سلنې څخه په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ م کال کې ۳۷,۷ سلنې ته لوړه شوه. په ختیځو، جنوبي او لویدیځو سیمو کې دنارینه ځوانانو بیکاریاو دکار کسب نشتوالی هم له منځنی ملی کچې او اندازې څخه لوړو. په کلي ډول بې کارې او دکار کسب نشتوالی زیاتره په جنوب لویدیزو، جنوب- مرکزی او ختیځو وروسته پاتې سیمو کې زیات شو، چې په مجموع کې یې په انتقالي مرحله کې ۳۸ سلنه کار کسبونه له لاسه ولاړل.

**۱۹ شکل: دسیمې په اساس دبیکارۍ او کار کسب نشتوالي اندازه ، نارینه ځوانان (۲۵، ۵۰)**




سرچینه (منبع) : د ۲۰۱۳-۲۰۱٤، کال دژوند حالت ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال دژوند حالت سروې او د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ ملي زیان منني او خطراتو ارزوني څخه په استفاده دلیکوال محاسبې.

**دکار کسب او دندو بحران له هر چا زیات لږ مهارت لرونکي او نالوستي (بې سواده) کارګران اغیزمن او زیانمن کړل.** له هرو پنځوکسبونو او کارونو څخه څلور و تنو، چې دانتقال په مرحله کې يې خپلې دندې او کار کسبونه له لاسه ورکړي وو، دلږ مهارت لرونکي کارګران وو. دغه موضوع دبې سوادو په کارۍ ځواک کې دکار کسب کمښت پورې اړونده برخه کې توضيح شوه. په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال دبې سواده نارینه ځوانو کارګرانو کار کسبونه له ۱,۹ سلنې څخه په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال کې ۱,٦ میلیونه تنو د ۴,۱۵ په شمیر کمښت وموند. دبې سوادو کارګرانو دبې کارۍ او کار کسب نشتوالی اندازې تقریباً څلور برابره له ۳,۸ سلنې څخه ۱۴,۵ سلنې ته زیات شو.[32] دنارینه بې سواده ځوانانو دکار کسب منفي بهیر له نورو څخه ډیر لړو، په نتیجه کې په داسې حال کې چې په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کال کې بې سواده ځوانانو دنارینه بیکارانو دنفوس ۵۷ سلنه جوړوله. خو داشمیر په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال کې ٦٦,۳ سلنې ته زیاتوالی وموند. دغه نتیجې یو ځل بیا ثابتوي چې دبیوزلو او غریبو وګړو طبقه دحوادثو او پیښو په وړاندې له نورو څخه ډیره زیانمنه کیږي.

## جګړه، دکار بازار نتیجې او دنفوس لیږد او ځای پرځای کیدل

**دجګړې او بیکارۍ ترمینځ اړیکه پیچلې ده.** په داسې حال کې چې دامنیتي حالت خرابیدل داقتصادي ودې او دکار دتقاضا سستیدلو په اړه لږ شک شته دی، خو په دې هکله هغه وګړي چې په داسې ولسوالیو کې استوګنه لري، چې جګړې پکې زیاتې دي، په دیر احتمال چې بې کاري پکې زیاته او کار کسب پکې شتون نه لري. په حقیقت کې دمسلې عکس او انځور سم او صحیح دی: په دې معنا چې زیاته جګړه دلږکار کسب سره ملګرې ده[33] ددې غیر منطقی نتیجې په هکله چې پر عقل و لاړه نه ده، کولی شو دوه ډوله توضیح وړاندې کړو: لومړی دجګړې زیات فشار په جبري ډول دکورنیو دمهاجرت کولو او یا بې ځایه کیدو او دانفرادي مهاجرت له لارې کیږي. دویم: دجګړې زیات فشار کله کله "دجګړې اقتصاد" له پاره څه په مستقیمه جګړه او یا دجګړه مارو دحضور داړوندو فعالیتونو له لارې دنویو کار کسبونو درامینځته کیدو سبب ګرځي.

**جبري بې ځایه کیدنه په لوړه کچه دکار بازار له زیانمنې سره ملګرې ده.** داخلي بې ځایه شوې کورنۍ له زیاتو ستونزو او ننګونو سره مخامخ کیږي، چې لومړنی ستونزه او ننګونه یې په مقصدي سیمو کې، چې دوی هلته ورځي، چې امن پکې وي، دا چې کافي مهارت نه لري، هلته ورته دښاري ژوند تیرولو له پاره کار روزګار پیدا کول ستونزمن دي. دموجودو شواهدو په اساس د داخلي بې ځایه شویو دکورنیو مشران په ډیر احتمال سره په بیلابیلو شکلونو له زیانمنې سره مخامخ او بې روزګاره کیږي.[34]

**له جبري بیځایه کیدنې سربیره کیدای شي جګړه کورنۍ اړ باسي، چې دمهاجرت د احتمالي خطرونو په زغملو دکورنۍ دغړو اقتصادي اړتیاوې پوره کړي.** افغانستان په عنعنوي ډول داسې هیواد دی، چې او سیدونکي یې مهاجرت او کډوالۍ ته مخه کوي. جګړې، شخړو او نښتو افغانان اړکړي، چې هم دننه په هیواد او هم بهر ته کډوال (مهاجر) شي. خو هغوی دخپلو اقتصادي اړتیاوو دپوره کولو له پاره دخپلې کورنۍ دنارینه غړو په مهاجرت کولو تکیه کړې ده، تر څو له اقتصادي ستونزو او بحرانونو سره مقابله وکړي او دخپل ژوند پورې اړوندو اقتصادي خطرونو مدیریت وکړي. [35]په کلي ډول دافغانستان ۳,۴ سلنه کورنۍ په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال کې رپوټ ورکړی، چې دکورنۍ یو غړی یې په تیر کال دکار کسب په لټه خپل استوګنځی، کور او کلی او هیواد پریښی دی.[36] تجزیه او تحلیل څرګندوي هغه کورنۍ چې پخپلو داستوګنو په سیمو کې دنا امنۍ احساس کوي، ډیري داسې مهاجرین دي، چې داقتصادي مسایلو له پاره یې مهاجرت کړی دی، خو واقعي تاوتریخوالی دکورنۍ له غړو څخه دیو غړي دمهاجر په حیث لرلو احتمال راکموي. داکار کیدای شي مصؤنیت ته او زیاتې اړتیا په دلیل او یا دکورنۍ دټولو غړیو د مهاجرت مجبور کیدو په خاطر وي.

۳۲ دنارینه ځوانانو دباسوادو او بې سوادو کار ګرانو په مینځ کې دغه توپیر لرونکي بهیر په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال کې دسواد لرونکو کار ګرانو ونډه له ۲,۳۹ سلنې څخه په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال کې ۴۲ سلنې ته زیاته کړه.


۳۳ دجګړې دبیلابیلو دسته بندیو له پاره نتیجه ښه ده او پکې کار د ځوانانو ټولې مجموعې(مجموعه، نارینه، نارینه ځوانان، بالغ نارینه) شاملیږي.

۳۴ دسواد حالت، دښاري یا ولایتي سکونت ځای ته په پاملرنه کورنۍ احتمالاً ۴ سلنه نیم وخت کار کسب درلود او دزیاتمن کیدونکي کار کسب خاوند وی، لکه څنګه چې دافغاني ټولنې په دیرو غریبو او بیوزلو قشرونو کې لیدل کیږي د داخلي بې ځایه شویو له پاهر د بیکارۍ خطر ډیر لږ دی.، ځکه چې هغوی داسې کومې منابع نه لري، چې دهغوی عواقب په خطر کې واچوي.

۳۵ په افغانستان کې دزیان رسوونکو پیښو او حوادثو په هکله دتفصیلي بحث او مطالعې له پاره څلورم څپرکي ته مراجعه وکړئ.


۳۶ دغه شمیرې یوازې له سروې څخه دمخه کال کې بهر ته دمهاجرت دشاخصونو لاس رسۍ وړ دی، نه دهغو زرګونو کورنیو دشاخصونو مجموعه، چې لږ ترلږه یو غړی یې په بل ځای کې کار کوي.

**۲۰ شکل : د انفرادي اقتصادي مهاجرینو عمري ځانګړني**




منبع: په افغانستان کې د ژوندانه د حالت له سروی څخه په استفادې سره د لیکوال محاسبات کال ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**۲۱ شکل : د بهرنیو مهاجرینو تر منځ د کلیوالي نفوس او د افغانستان د ټول نفوس**




منبع: د ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ کال د ژوندانه د حالت له سروی څخه په استفادې سره دلیکوال محاسبات، د ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ کال د ژوندانه دحالت سروی او د۲۰۰۷- ۲۰۰۸ کال د خطرونواو د ملي زیانمنني څیړنه


**د افغانستان اقتصادي مهاجرین زیاتره په کلیوالي سیمو پورې اړوند نارینه ځوانان دي.** د هغو افغانانو مشخصات او ځانګړنې چې له هیواد څخه په بهر کې د کار موندلو په لټه کې دي،محدود دي. په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د سروې معلومات یوازې د مهاجرینو د عمر، جنسیت او موقعیت په باره کې غیر مستقیم معلومات برابروي، چې دغه معلومات د هغوې د کورنیو له لارې چې په افغانستان کې ژوند کوي تر لاسه کیږي[۳۷]. د (۲۰۱۳ – ۲۰۱۴) له دیرې نوې سروې څخه تر لاسه شوي معلوماتد مهاجرت د نوې څپې څرګندوی دي. په دې صورت سره، د تیر اقتصادي بهیر او مشخصاتو په باب معلومات له مورږ سره مرسته کوي په اوسنیو او راتلوونکو چلنجونو پوه شوو. اقتصادي مهاجرت د فرهنګي نورمونو په دلیل یوه داسې پدیده ده، چې په نارینه طبقې او ځوانانو پورې اړه لري. [۳۸] لکه څنګه چې په( ۲۰شکل) کې ښودل شوي دي، ۵۳،۳ سلنه اقتصادي مهاجرین، چې په ۲۰۱۳ - ۲۰۱۴ کال کې له خپلو سیمو څخه بې ځایه شوي دي، د ځوانانو له طبقې څخه دي، ۸۳ سلنه یې له دیرشو کلونو څخه ښکته عمر لري او ۹۰ سلنه یې له ۳۵ کلنۍ څخه ښکته عمر لري. سربیره پر دې، هغه مهاجرین چې له هیواد څخه په بهر کې د کار موندنې په لټه کې دي، په نا متناسب او زیاتیدونکې ډول له کلیوالي سیمو څخه وتلي دي او د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د اقتصادي او امنیتي حالاتو د خرابوالي منعکس کوونکي دي.(۲۱ شکل)

**لکه څنګه چې هیله کیږي په افغانستان کې له وزګارتیا او د کار په نشتوالي سره مهاجرت زیاتوالي مومي.** لکه څنګه چې په (۲۱ شکل) کې ښودل شوي دي، اقتصادي مهاجرت یوه نوې پدیده نه ده، بلکې د کورنۍ وزګارتیا بهیر زیات منعکس کوي، ځکه خلک هغه وخت د خپلي استوګنې له ساحې څخه بې ځایه کیږي، چې په دغه ځای کم کار شتون ولري. د یادونې وړ ده په داسې حال کې چې په ۲۰۱۳ - ۲۰۱۴ کال کې امنیتي او اقتصادي حالت د ۲۰۰۷ -۲۰۰۸ کال په پرتله په پراخه اندازه څو برابره خراب وو، په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال کې د مهاجرینو شمیر د ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ کال څخه کابو ۴۰ سلنه کم و. دا کار په زیات احتمال سره د کورنې مهاجرت او یا بهرنیو هیوادونو ته د مهاجرت د کمښت په حال کې د فرصتونو په دلیل او له هیواد څخه د وتلو په منابعو او امکاناتو د لاس برې د ستونزو د زیاتوالي په دلیل دي[۳۹]. لکه څنګه چې په (۲۳ شکل) کې ښودل شوي دي، ۱۲ او ۱۸ سلنه مهاجرین په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کال کې د اقتصادي همکارۍ او پراختیا د سازمان (OECD) د غړو هیوادونو او د خلیج د عربي هیوادونو په مقصد له هیواد څخه ووتل. په داسې حال کې چې په ترتیب سره یوازې ۴ او ۱۳ سلنه مهاجرت په ۲۰۰۷ -۲۰۰۸ کال کې دغو هیوادونو ته وشو.

۳۷ دویمې تبصرې ته مراجعه وکړئ.
۳۸ دغه شمیرې یوازې له سروې څخه دمخه کال کې بهر ته دمهاجرت دشاخصونو لاس رسی وړ دی، نه دهغو زرګونو کورنیو دشاخصونو مجموعه، چې لږ ترلږه یو غړی یې په بل ځای کې کار کوي.
۳۹ د هغو افغانانو په باره کی د معلوماتو په مطالعې سره، چی د اروپا په لور د هغوی د لارې په تګلوري کې د ۲۰۱۶ کال په څو لومړیو میاشتو کې یونان ته رسیدلي دي ورته مشخصات تر لاسه کیږي، چې نسبي اکثریت یې نارینه مجرد ځوانان دي (د کورنیو بې ځایه شویو کسانو د مشخصاتو د ټاکنې ګډ خدمتونه)


**د ښوونې او روزنې کچه د مهاجرت لپاره د مقصد هیواد ښه ټاکونکې ده**[40]**.** له ۱۵ کلنۍ څخه تر ۳۵ کلنۍ پورې نارینه وګړو ته په پاملرنې سره، له ښوونې او روزنې خاوندو کلیوالي او یا ښاري سیمو مهاجرین کم دي. د مهاجرت انتخابونه او شبکې ښايي د کم مهارت لرونکو کارګرانو لپاره، چې د ایران د هیواد او یا د خلیج د عربي هیوادونو په لور حرکت کوي زیاتې د لاس رسي وړ دي[41] خو له بله پلوه، هغه مهاجرین چې له دغو هیوادونو څخه بهر مقصدونو ته مهاجرت کوي، په زیات احتمال سره د ښوونې او روزنې خاوندان دي. د مقصد هیواد د ټاکنې انتخابونه ښايي د سفر د لګښتونو (ترانسپورت، قاچاق وړونکي، وخت او نور) او دغه راز د سفر د ترسره کولو او مقصد هیواد ته له رسیدو وروسته د کار موندلو په باره کې د معلوماتو د ترلاسه کولو په لاره کې د لازمو مهارتونو او ارتباطاتو منعکس کوونکي دي. په ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸ کال کې ۴۴ سلنه مهاجرین، چې له ایران، پاکستان او یا د عربي ټاپو وزمې هیوادونو په مقصد سفر کوي د ثانوي او یا د لسانس زده کړې لري. دغه مسئله په خدمتونو پورې له ګډو اقداماتو څخه له تر لاسه شویو شواهدو څخه[42] له کورنیو بې ځایه شویو کسانو د مشخصاتو ټاکنه ده، چې ښیي هغه نارینه افغانان چې د ۲۰۱۶ کال په لومړیو وختو کې یونان ته ورسیدل، زیاتره یې د لوړو زدکړو لرونکي مجرد ځوانان وو.

**۲۲ شکل: د انفرادي مهاجرت بهیر**




منبع: د ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ کال د ژوندانه د حالت له سروی څخه په استفادې سره د لیکوال محاسبات، د ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ کال د ژوندانه د حالت سروی او د ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸ کال د خطرونو او د ملي زیانمننې څیرنه.

**۲۳ شکل: د سروې د کال له مخې د مهاجرو کارګرانو د انتخاب وړ مقصد هیوادونه**





منبع: د ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ کال د ژوندانه د حالت له سروی څخه په استفادې سره دلیکوال محاسبات، د ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ کال د ژوندانه د حالت سروې او د ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸ کال د خطرونو او د ملي زیانمننې څیرنه

**۱ جدول: په افغانستان کې میاشتني کارګري عواید او هغه پیسې چې له بهر څخه رالیږلې کیږي**

| | منځنۍ | منځنۍ |
|---|---|---|
| کرنه | ۵۹۳۰ | ۴۸۰۰ |
| تولیدات | ۷۴۹۶ | ۷۰۰۰ |
| ساختماني | ۶۵۱۶ | ۵۶۰۰ |
| خدمات | ۹۹۲۷ | ۸۰۰۰ |
| عمومي سکټور | ۱۴۳۶۸ | ۱۲۰۰۰ |
| روغتیا او ښوونه او روزنه | ۴۹۰۲ | ۷۰۰۰ |
| له بهر څخه رالیږلې شوې | ۸۵۸۱ | ۵۸۳۳ |
| **ټولې (له بهرنیو پیسو پرته)** | **۸۵۲۹** | **۷۰۰۰** |

یادونه: له ۱۴کلنې څخه تر ۳۵ کلنې پورې کارګرانو لپاره د کار عواید په پام کې نیول شوي دي، چې د مهاجرینو له اماري مشخصاتو او ځانګړنو سره سمون ولري.
منبع:په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د سروی له مخې د لیکوال محاسبې، ۲۰۱۳ـ۲۰۱۴ کال.

**۲۴ شکل: د لیږونکي هیواد له مخې له بهر څخه د رالیږلو شویو پیسو ویش**




یادونه : ارقام د یوه باکس او د یو ویسکر پلاټ (whisker plot) څرګندوی دي. باکس له ۲۵ سلنې څخه پیل او په ۸۵ سلنې پای ته رسیږي. د باکس منځنۍ کرښه د نیمايي خط څرګندوی ده. د باکس د دواړو خواوو دوه خطونه په حد اقل او حد اکثر قیمتونو پراخیا پیدا کوي چې د خطونو راکښل پکې نه شاملیږي. نقطې د خطونو د راکښلو څرګندوی دي.
منبع:په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د سروی له مخې د لیکوال محاسبې. ۲۰۱۳ـ۲۰۱۴ کال.

---

۴۰ تجزیه او تحلیل ښیي چې اقتصادي مهاجرت یوه داسې ستراتیژي ده، چې زیاتره په نسبي ډول د هغو زیاتې پانګې لرونکو کورنیو لپاره چې ښايي د مهاجرینو د ملاتړ لپاره زیاتې منابع لري د لاس رسي وړ دي. نړیوال شواهد هم ښیي په داسې حال کې چې مهاجرت د بې وزلۍ د کمښت سبب کیږي، خو بیوزلي کسان ډیر کم مهاجرت ته حاضریږي یا هغو هیوادونو ته مهاجرت کوي، چې د هغوی د راستنیدو خطر کم وي، ځکه هغوی فرصتونه او یا منابع نه لري ( پولي او انساني منابع). د نړیوال بانک او د پناه غوښتونکو د چارو لپاره د ملګرو ملتو د سازمان د عالي کمیشنرۍ ویبسایټ ته مراجعه وکړئ.

۴۱ له بده مرغه د هغو مهاجرینو په ښوونې او روزنې او د کار او کسب په نتیجو پورې اړونده معلومات، چې په انفرادي ډول مهاجرت کوي یوازې له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې راټول کړای شوي وو، چې امکان نه لری چې د مهاجرینو په مشخصاتو پورې په اړوندو بدلونونو برلاسی پیدا کړو.

۴۲ د کورنیو بې ځایه شویو کسانو د مشخصاتو د ټاکنې د ګډو خدمتونو مؤسسه، چې خپل خدمتونه د بنسټونو په داخل کې ترسره کوي .په ۲۰۰۹ کال کې په جنوا ) ژنیو( کې جوړه شوه، چې د دولت د تخنیکي ملاتړ په لاره کې، هغه بنسټونه چې د انساني او انکشافي خدمتونو په لاره کې کار کوي او د کورنیو بې ځایه شویو کسانو په باره کې خپل معلومات ښه کوي .په زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره http://www.jips.orgen/home ویبسایټ ته مراجعه وکړئ

**هغه پیسې چې له بهر څخه رالیږلې کیږي د افغان کورنیو په ژوندانه کې مهم رول لري .** هغو پیسو پورې اړوند معلومات چې له بهر څخه رالیږلې کیږي د افغان کورنیو د ژوندانه د ستراتیژیو لپاره د اقتصادي انفرادي مهاجرت اهمیت تائیدوي. په افغانستان کې د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال د ژوندانه د حالت د سروې معلومات ښيي، چې له ۵ تنو مهاجرینو څخه ۴ تنه په افغانستان کې خپلو کورنیو ته پیسې لیږي.په دغو معلوماتو کې یوازې هغه مهاجرین شاملیږي، چې له سروې څخه یو کال مخکې له افغانستان څخه وتلي دي او معلومات ښيي چې زیاترو مهاجرینو د دې توان او قدرت درلود چې په افغانستان کې د خپلو کورنیو د ژوندانه د تامینولو لپاره ډیر ژر د کار خاوندان شي. هغه پیسې چې هیواد ته رالیږلې کیږي د مقصد هیواد په نظر توپیر لري. چې په هرې سیمې پورې د اړوندو مهاجرینو د ښوونې او روزنې او اجورو په مشخصاتو او ځانګړنو کې د توپیرونو څرګندوی دي. په منځنۍ ډول هغه پیسې چې له بهر څخه رالیږلې کیږي په افغانستان کې د یوه ۳۵ کلن افغان کارګر د میاشتنۍ عاید د منځنۍ حد له مخې په هره میاشت کې کابو ۸۶۰۰ افغانۍ دي. په هر حال، د بهرنیو پیسو منځنۍ ارزښت ۲۰ سلنه ټیټ دی، چې د مهاجرینو تر منځ د کم مهارت لرونکو کارګرانو د زیاتوالي تائیدونکی دی. سره له دې هم، د هغو پیسو له لارې چې له بهر څخه رالیږلې کیږي له کورنیو سره مرسته مهمه ده. په منځنۍ ډول، د کورنیو ۷۰ سلنه عوایدو د هغو پیسو له لارې دي چې په بهر کې د مهاجرینو د کار په نتیجه کې دوی ته رالیږلی کیږي. په اوسط ډول ۷۰ سلنه د ټول عوایدو د یوې کورنۍ په مهاجرت پورې اړه لري او د حواله په توګه تر لاسه کیږي. له دې امله، څومره چې د مهاجرت انتخاب کمښت مومي، افغان کورنۍ په زیاتیدونکې توګه د مدیریت او د احتمالي اقتصادي خطرونو د مقابلې له ستونزې سره مخامخې کیږي.

دریم څپرکی

# د بشري انکشاف او خدمتونو ته د لاس رسي نتیجې: له خطر سره مخامخ پرمختګ

**لنډیز:** افغانستان د زماني په اوږدو کې د ښوونې، روغتیا او په اوبو او بریښنا د لاس رسي په ګډون د بشري انکشاف او په اساسي خدمتونو د لاسرسۍ د نتیجو له مخې د پام لرنې وړ پرمختګونه کړي دي. په همدې حال کې، د هغو نښتو او چلنجونو زیاتوالي چې د خدمتونو د وړاندې کولو په تګلوري، په تیره بیا په کلیوالي سیمو کې شتون لري د لیږدونې د دورې په اوږدو کې(د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ او د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ تر منځ کلونو کې) له هغو څخه د مخکې دورې(۲۰۰۷-۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲ تر منځ کلونو) په نسبت د پرمختګ چټکتیا کمه کړې ده او خدمتونو ته په لاسرسي کې نا برابري پراخه شوې ده. د مثال په ډول: دغه درز د بډایو او بیوزلو کسانو، نجونو او هلکانو او د ښاري او کلیوالي سیمو د اوسیدونکو تر منځ لاس رسي کې د لیږدونې د دورې په اوږدو کې مخ په پراختیا دی، په تیره بیا ښوونې ته د لاس رسي په شان مواردو کې دا کار د تر لاسه شوي پرمختګ د خطرناک ماهیت او د هغو چلنجونو څرګندوی دي چې په مخکې پراته دي.

## د لیږدونې په دوره کې د تعلیمي نتیجو بهیر:


**په افغانستان کې تعلیمي نتیجې مخ په ښه والي دي، خو د لیږدونې او انتقال په دوره کې یې د پرمختګ چټکتیا کمزورې ده.** د تیرې لسیزې په بهیر کې له پرمختګ سره سره، افغانستان د آسیا په جنوب کې ډیرې ټیټې تعلیمي نتیجې ځان ته ځان ګرې کړې دي او د کمو عوایدو د لرزنده اقتصاد لرونکو هیوادونو منځنۍ اندازې ته په پاملرنې سره، افغانستان په وروستي ځای کې دی. د حالت له ښه والي لپاره ښوو زمینو او لارو چارو سره سره، د لیږدونې د دورې په اوږدو کې د تحصیلي نتیجو د پرمختګ چټکتیا بیخي کمښت موندلی دی. لکه څنګه چې په (۲۵ شکل) کې ښودل شوي دي، د ښځو د لیک لوست د کچې د کلنۍ ودې اندازه، د تعلیمي کلونو شمیر او په ثانوي ښوونځیو کې د هغوې د شتون کچه له لیږدونې څخه د مخکې دورې په نسبت بیخي کمښت موندلی دی.په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې، له ۱۵ کلنۍ څخه پورته د افغانستان یوازې ۲۰،۳ سلنه ښځې با سوادې دي[۴۳] له ۱۸ کلنۍ څخه پورته د یوه افغان د تعلیمي کلونو منځنۍ کچه کابو ۲،۸ سلنه ده.[۴۴] او یوازې ۳۷ سلنه زده کوونکي په منځنیو ښوونځیو کې شتون پیدا کوي. هغه موضوع چې زیاته د اندیښنې وړ ده په لومړنۍ دوره کې د زده کوونکو د شتون د شمیر د پرمختګ ځنډیدل د انتقال په دوره کې دي، چې ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو تر منځ یې ۱،۲ سلنه کمښت وموند.په نتیجه کې په ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ کلونو کې په ټیټه کچه د ماشومانو چه په لومړنیو رده کړو بوخت دی د شتون شمیر (۵۴،۴ سلنه) د ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ کلونو په نسبت ۱،۲ سلنه (۵۵،۸ سلنه ) کمښت موندلی دی.

**په تعلیمي لحاظ د نجونو بیرته پاتې والی زیات شوی دی.** په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ کلونو کې د لومړنیو ښوونځیو د زده کوونکو د شمیر کمښت تر زیاتې اندازې پورې په دې تعلیمي دوره کې د نجونو د شتون د کمښت نتیجه ده. په حقیقت کې، په داسې حال کې چې له انتقال څخه په وروسته دوره کې د هلکانواو نجونو د شتون شمیر کم شوی دی، په لومړنیو ښوونځیو کې د نجونو کلنۍ شتون له ۲،۲ سلنې له کمښت سره مخامخ دی په داسې حال کې چې دغه شمیر د هلکانو لپاره ۰،۶ سلنه دی. (۲۶ شکل) سره له دې چې اوسنی شمیر (۴۵،۴ سلنه) د نجونو ټیټ شتون د هلکانو په نسبت (۶۲،۴ سلنه) دی، د پرمختګ د چټکتیا د معکوس کیدو په نتیجه کې هم یو زیات شمیر نجونې له زده کړې څخه پاتې کیږي. د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ کلونو تر منځ په لومړنیو ښوونځیو د نجونو د شتون د ودې چټکتیا له هلکانو څخه زیاته ده، خو د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او د ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ کلونو تر منځ دغه شمیر د هلکانو لپاره په چټکتیا سره کمښت موندلی دی او دا کار د جنسیتي درز د پراختیا سبب شوی دی.

۴۳ په افغانستان کې د نارینه وو د سواد کچه ۵۰،۲ سلنه او د ۱۵ کلنۍ څخه پورته کسانو د منځنې حد لپاره د سواد کچه ۳۵،۴ سلنه ده.


۴۴ د ۱۸ کلنو او له دې څخه پورته د نارینه وو د تعلیمي کلونو شمیر د ښځو ۳ برابره دی. په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې د ښځو د تعلیمي کلونو منځني کچه ۱،۴ سلنه وه په داسې حال کې چې دغه شمیر د نارینه وو لپاره ۴،۲ سلنه دی.

**۲۵ شکل:** د منتخبو تعلیمي نتیجو د کلنۍ ودې کچه





منبع: د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ د خطر او زیانمننې د ملي څېړنې له مخې د لیکوال محاسبې، په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې

**۲۶ شکل:** په لومړنیو ښوونځیو کې د شتون بهیر، د جندر له مخې




منبع: د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ د خطر او زیانمننې د ملي څېړنې له مخې د لیکوال محاسبې، په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کې په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې

**۲۷ شکل:** په لومړنیو ښوونځیو کې د شتون بهیر د استوګنې د ځای له مخې





منبع: د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ د خطر او زیانمننې د ملي څېړنې له مخې د لیکوال محاسبې، په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کې په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې

**په نجونو سربېره، په لومړنیو ښوونځیو کې په تېره بیا په کلیوالي سیمو کې شتون او حضور له سخت کمښت سره مخامخ شوی دی**. لکه څنګه چې په (۲۷ شکل) کې ښودل شوي دي، د لیږدونې دوره په کلیوالي سیمو کې د لومړنیو ښوونځیو د زده کوونکو د شتون د کمښت او ښاري او کلیوالي سیمو په ښوونځیو کې د زده کوونکو د حضور د شمیر تر منځ د درز د پراختیا ښکارندوی ده. په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې له هرو ۱۰ ماشومانو څخه کابو ۸ تنو ماشومانو په ښاري سیمو کې په لومړنیو ښوونځیو کې شتون درلود، په داسې حال کې چې دغه شمیر د کلیوالي ماشومانو لپاره له هر ۱۰ تنو څخه ۵ تنه وو. لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه په کلیوالي سیمو کې په ښوونځیو کې د شتون او حضور کمښت په عمده توګه په ښوونځیو کې د نجونو د نشتون زیږنده دی. په کلیوالي سیمو کې د نجونو لپاره د شتون او حضـــور شمیر په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلونو کې له ۴۱،۰ سلنې څخه په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې ۳۷،۳ سلنې ته کمښت موندلی دی. په داسې حال کې چې دغه شمیر د هلکانو لپاره له کم کمښت سره مخامخ دی او له ۵۸،۹ سلنې څخه ۵۷،۴ سلنې ته یې نزولي تګلوری درلود. سربېره پردې د نجونو په نســـبت د هلکانو لپاره د ښاري او کلیوالي سیمو تر منځ ښوونځیو کې په شتون کې درز کم دی.

**جګړې او نښــتې په ښوونځیو کې د ماشومانو، په تیره بیا د نجونو د شتون خند دی.** د جګړې د حالاتو د خرابوالي او په کلیوالي سیمو کې د نا امنیو زیاتوالي د لیږدوني د دورې په اوږدو کې په لومړنیو ښوونځیو کې د شتون د منفي بهیر سبب دی. لکه څنګه چې په (۲۸ شکل) کې ښودل شوي دي، هغه ولایتونه، چې د ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ او د ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو تر منځ جګړو او نښــتو له امله پیښــې پکې را منځته شوي دي، په لومړنیو ښوونځیو د شتون د کچې د کمښــت شاهد دی. په داسې حال کې چې په هغو ولایتونو کې چې کمې جګړې او نښــتې پکې شوې دي، مخالف بهیر لیدل کیږي. جګړې او نښــتې په ښوونځیو کې د نجونو په شتون او حضــور زیاتې اغیزې لري.


په ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ کلونو کې له هرو ۱۰ تنو ماشـومانو څخه ۷ تنو ماشـومانو د هغو سـیمو په لومړنیو ښـوونځیو کې شـتون پیدا کړ چې کمې جګړې او نښـتې پکې موجودې وې، خو په هغو سیمو کې چې زیاتې جګړې او نښـتې پکې وې د هلکانو په نسبت د نجونو شتون د ۱۰ تنو په وړاندې ۵ تنه وو[45] لکه څنګه چې په (۲۹ شکل) کې ښودل شوي دي.په هغو کلیوالي سیمو کې چې زیاتې جګړې او نښـــتې پکې وې په لومړنیو ښوونځیو کې د هلکانو په نســبت د نجونو شتون کم دی(د لویو پوقانیو د حرکت لوری د ګراف ښکتني لوري ته دی) د مثال په ډول: په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کلونو کې د ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو په نسبت په هغو ولایتونو کې چې جګړې او نښـتې پکې زیاتې دي(لویو پوقانیو)، په لومړنیو ښوونځیو کې د هلکانو په نسبت د نجونو د شتون کمښـت درلود.(۴۵ خطپر مخ پوقانۍ)

**۲۸ شکل:** په شخړه کې بدلونونه او په لومړنیو ښوونځیو کې د شتون کچه، ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۳- ۲۰۱۴




منبع: د لیکوال محاسبې، په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کې په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې او د SIOCمعلومات

**۲۹ شکل:** د ولایت له مخې په لومړنیو ښوونځیو او جګړه کې د هلکانو په پرتله د نجونو د شتون په نسبت بدلونونه




یادونه: د پوقانو اندازه په ۲۰۱۳ -۲۰۱۴ کلونو کې د جګړې دسختوالي څرګندوی دي، سترې پوقانې په ولایت کې د پیښو د لوړ شمیر څرګندوی دي
منبع: د لیکوال محاسبې، په ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کې په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې

**نه یواځې جګړه، بلکې د بیوزلۍ زیاتوالی هم د لیږدوني او انتقال په دوره کې په لومړنیو ښــــوونځیو کې د لیږدوني د شــــمیر د کمښـــــت سبب شوی دی،[46]** په لومړنیو ښوونځیو کې د هغو ماشومانو د شتون شمیر، چې په بیوزلو کورنیو کې ژوند کوي په پاملرنې وړ ډول له هغو ماشـــومانو څخه ټیټ دی، چې په بډایو کورنیو کې ژوند کوي.په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې د بډایو کورنیو ۶۱،۵ سلنه ماشومانو په لومړنیو ښوونځیو کې شتون درلود، خو په بیوزلو کورنیو کې د ماشومانو دغه سلنه ۴۸،۲ ده[47] (۳۰ شکل) په لومړنیو ښوونځیو کې د بیوزلو او بډایو کورنیو د ماشومانو د شتون په شمیر کې اختلاف دغه راز په ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کلونو کې له ۶ سلنې څخه په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې ۱۴ سلنې ته زیات شوی دی. دغه شمیر د ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو تر منځ د بیوزلو کورنیو د ماشومانو په شتون او حضور کې ۳ سلنه کمښت ښیي. له دې سره جوخت د هغو ماشومانو شتون چې په بډایو کورنیو کې ژوند کوي په کال کې کابو ۱ سلنه زیات شوی دی.


۴۵ په منځنیو ښوونځیو کې د هلکانو په نسبت د نجونو په شتون او حضور کې توپیر په بشپړه توګه مشخص دی: په هغو سیمو کې چې کمې جنګي پیښې لری، د هلکانو په نسبت د نجونو د شتون نسبت د ۱۰ په وړاندې ۵ دی، خو په هغو سیمو کې چې لوړې جنګي سیمې لري د ۱۰ تنو هلکانو په وړاندې یوازې ۲ تنو زده کوونکو نجونو په ښوونځیو کې شتون او حضور درلود.

۴۶ لکه څنګه چې په ۴ څپرکي کې مو اشاره وکړه، کورنۍ په تیره بیا په نسبي ډول بیوزلې کورنۍ - ښایي د انسانی پانګې په برخه کې د پانګونې په نفې سره د منفي عاید او ګټې وټې شوک ته ځوابووایي او ښوونځي ته د خپلو ماشومانو د ورتګ مخه ونیسي

۴۷ له زیږون مخکې څارنو کې هغه څارنې شاملې دي چې یوه ښځه د امیدوارۍ په دوران کې د زیږون په وخت کې د ځان او د خپل ماشوم د سلامتیا په باب د ډاډ د پیدا کولو په موخه تر لاسه کوي.

**په بېوزلو کورنیو کې ماشومان په خاصه توګه له تحصـــــیلي خنډونو سره مخامخ دي او په لومړنیو ښوونځیو کې په بېوزلو او بډایو کورنیو کې د ماشـومانو د شـــتون درز په پاملرنې وړ ډول زیات شـــوی دی.** په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې د ډېرو بېوزلو او ډېرو بډایو افغان کورنیو تر منځ د شتون د شمیر توپیر له ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ کلونو څخه زیات و. د هغو ماشومانو د شـتون شـمیر چې د ټولنې له ۴۰ سلنې څخه ښکته دي، د کمښـــت په حال کې دی. په داسې حال کې چې دغه شمیر د لوړ اقتصــــاد لروونکو ۴۰ سلنې ماشومانو لپاره په ثابتې چټکتیا سره مخ په زیاتوالي دی. د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او د ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ تر منځ کلونو کې د هغو ماشـومانو د شتون دقیق شمیر، چې ۲۰ سلنه یې په ډېرو بېوزلو کورنیو کې ژوند کوي کابو ۷،۲ سلنه کمښـت موندلی دی. ډښوونې په برخه کې د سوکالۍ د واټن زیاتوالي به د زماني په اوږدو کې د بېوزلي نسل تر منځ د لیږدونې د ژورتیا او د نابرابریو سبب شي.

**۳۰ شکل:** په لومړنیو ښوونځیو کې د شتون شمیر، د سوکالۍ د حالت له مخې





یادونې: پنځمه برخه شمیر (Quintiles) د سروی په هر کال کې دلګښت د سرې سر ویش له مخې ټاکل شوی دی.
منبع: د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ ، د خطر او زیانمننې د ملي څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبې، په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳- ۲۰۱۴

## د میندو د روغتیا د نتیجو بهیر

**په افغانستان کې د میندو د روغتیا حالت مخ په ودې بهیر لري، خو د لیږدونې په دوره کې په کمې چټکتیا سره پر مخ تللی دی.** د زماني په تیریدو سره، د لومړنی روغتیا ساتنې د خدمتونو پر اختیا د میندو د روغتیا د نتیجو له ښه والي سره زیاته مرسته کړې ده: د هغو ښځو سلنه، چې له زیږون مخکې او د زیږون په وخت کې تخصـــصـــي څارنې تر لاسه کړې دي[۴۸]. د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ او د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو تر منځ ۲ برابره شوې دي (۳۱ شـکل) په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې کابو ۶۲،۶ سـلنه ښځو له زیږون مخکې څارنې تر لاسـه کړې دي، په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو کې د ۳۰،۴ سـلنې د شـمیرنو په پرتله. په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې کابو ۴۶ سلنې ښځو تخصـصـي څارنې تر لاسه کړې دي. په داسې حال کې چې دغه شمیر په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو کې کابو ۲۱،۹ سلنه و. د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او د ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ تر منځ کلونو کې د میندو د روغتیا د ښــــه والي د بهیر د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ او د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ دورې په نسبت کمزورې چټکتیا لرله. د مثال په ډول: د هغو ښځو شمیر چې د زیږون په وخت کې یې تخصـصـي څارنې تر لاسه کړې دي د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ او د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ تر منځ کلونو کې کابو ۱۶،۶ زیات شـوی دی په داسـې حال کې چې دغه شـمیر د ۲۰۱۱- ۲۰۱۲ او د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ تر منځ کلونو په کال کې کابو ۶،۹ سلنه کمښت موندلی دی.


۴۸ له زیږون څخه دمخه مراقبت ا وساتنو کې دا شامل دي چې یوه ښځه د حامله ګۍ په دوران کې دزیږون پروخت دخپل ځان او خپل ماشوم له روغتیا څخه ډاډ ترلاسه کوي.

۳۱ شکل: د میندو د روغتیا د نتیجو بهیر





سرچینه (منبع): د ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸، ۲۰۱۱ـ۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبې او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳ـ۲۰۱۴

۳۲ شکل: د استوګنې د ځای له مخې له زیږون مخکې په تخصصي څارنو د لاس رسۍ بهیر





۳۳ شکل: د استوګنې د ځای له مخې د ماهرو قابلو په شتون سره د زیږون بهیر




منبع: د ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸، ۲۰۱۱ـ۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبات او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳ـ۲۰۱۴


**په ښاري او کلیوالي سیمو کې د ولادي روغتیایي خدمتونو د کچې تر منځ زیات اختلاف هماغه شان پاتې دی.** په ۲۰۱۳ـ ۲۰۱۴ کلونو کې په ښاري سیمو کې کابو ۸۴،۶ سلنه ښځو له زیږون مخکې تخصصي څارنو ته لاس رسی درلود، په داسې حال کې چې په کلیوالي سیمو کې دغه شمیر ۵۶،۸ سلنه و. په همدې حال کې د زماني په تیریدو سره دغه ښاري- کلیوالي اختلاف په ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸ کلونو کې له ۳۵،۲ سلنې څخه په ۲۰۱۳ـ۲۰۱۴ کلونو کې سلنې ته کمښت موندلی دی(۳۲ شکل). د مثال په ډول: په ښاري سیمو کې افغان ښځې د کلیوالي سمیو په نسبت څه د پاسه دوه برابره د تخصصي څارنو د تر لاسه کولو چانس لري. په ۲۰۱۳ـ ۲۰۱۴ کلونو کې په ښاري سیمو کې کابو ۸۲،۵ سلنه ښځو له تخصصي څارنو څخه ګټه اخیستې ده، په داسې حال کې چې دغه شمیر د کلیوالي سیمو د ښځو لپاره ۳۶،۸ سلنه و. د لیږدونې په دوره کې په ښاري او کلیوالي سیمو کې د تخصصي څارنو د وړاندې کولو په کچه کې اختلاف پراختیا موندلې ده، په ۲۰۱۳ـ ۲۰۱۴ کلونو کې له ۴۳،۵ سلنې څخه په ۲۰۱۱ـ۲۰۱۲ کلونو کې ۴۵،۸ سلنې ته( ۳۳ شکل) د تعلیمي نتیجو د بهیر له مخې، په کلیوالي سیمو کې د پرمختګ چټکتیا نزولي تګلوری درلود، چې د جګړې او د امنیتي حالاتو د خرابوالي په دلیل د خدمتونو د وړاندې کولو د لارې پر سر د پرتو چلنجونو او ننګونو څرګندوی دي.

**۳۴ شکل:** له زیږون مخکې تخصصي څارنو ته د لاس رسی بهیر، د بیوزلی د حالت له مخې




منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبات او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروی ۲۰۱۳-۲۰۱۴


**۳۵ شکل:** د زیږون په وخت کې تخصصي مرستې ته لاس رسی، د بیوزلی د حالت له مخې




منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ارزونې او څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبې او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**د یو لږ اندازه پرمختګ تر څنګ بیوزله ښځې روغتیایی آسانتیاوو ته د ثروت لرونکو ښځو په کچه لږ اندازه لاسرسی لری.** لکه څنګه چه په (۳۶ شکل) کی لیدل کیژی ۲۰ سلنه بیوزلی ښځی روغتیایی چوپړتیاوو ته لاسرسی نلری او د ماشوم د زیږدو په وخت کی د ثروت لرونکو ښځو په کچه زیاتی أسانتیاووی نلری. په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ په هر ۱۰ ښځوو کی چه ثروت لرونکی دی ۲۰ سلنو د حاملګی آسانتیاوو ته لاسرسی درلود ولی د بیوزلو ښځوو له جملی څخه دا کچه یوازی یو یا دوه ښځی وی اما یو اندازه پرمختګ هم پدی اړوند تر سره شوی دی. د مهارت لرونکو آسانتیاوو ته د حاملګی په اړوند کچه پخپل حلت پاتی ده.د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ د حاملګی مهارت لرونکو آسانتیاوو ته لاسرسی د ۹ سلنی په کچه د بیوزلو ښځوو دپاره لوړه شویده البته د ثروت لرونکو ۲۰ ښځوو په مقابل کښی دغه کچه ۵ ته رسیژی. د حاملګی مهارت لرونکو آسانتیاوو ته لاسرسی په مجموعی ډول ۲.۶ سلنه ښه شویده.

**۳۶ شکل:** د لګښتي quintile په تفکیک سره د میندو د روغتیا نتیجې ( ۵ برخه/ شل سلنه )، ۲۰۱۳- ۲۰۱۴





منبع: په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د سروې د معلومات له مخې د لیکوالو محاسبې ۲۰۱۱-۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴

## اساسي خدمتونو ته د لاس رسي بهير

**د اوبو او برېښنـــا په شان په اساسي خدمتونو د لاس رسی ښه والی په افغانســـتان کې د برياليتوب مهم موارد بلل کيږي.** د مخ په زياتيدونکو شخړو له شتون او د مرستو له کمښت سره سره په افغانستان کې د لیږدوني په دوره کې اوبو او برېښنا ته د لاس رسي د ښه والي بهير دوام وموند، آن له هغه څه څخه په زياتي چټکتيا سره، چې پخوا ليدل شوي دي (۳۷ شکل) د هغو افغانانو شمير چې د څښـاک روغتيايي اوبو ته لاس رسی لري، په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو کې له ۲۶،۶ سلني څخه په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې څه د پاڅه دوه برابره، يعني ۶۴،۸ سلني ته زياتوالی ومومند. د مثال په ډول: برېښـنا ته لاس رسی په ۲۰۰۷ -۲۰۰۸ کلونو کې له ۴۱،۶ سلني څخه په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې کابو ۹۰ ســلني ته زياتوالی موندلی دی. ســـر بيره پردې، په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې کابو ۳۹ سلني خلکو د عمومي روغتيا امکاناتو ته لاس رسی پيدا کړ.[۴۹]

**۳۷ شکل:** اساسي خدمتونو ته د لاس رسي بهير





منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي څېړنې او ارزونې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبې او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**خدمتونوته د لاس رسی په برخه کې د پرمختګ په دوام سره، بايد په ښـاري او کليوالي سيمو کې د خدمتونو د څېړنې او ارزونې په کچه کې د اختلاف کمښت ته زياته پاملرنه اختصاص کړای شي.** په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې په افغانستان کې له هرو ۱۰ ښاري کورنيو څخه ۹ کورنيو د څښـــــاک روغتيايي اوبو ته لاس رسی درلود. خو دغه اندازه د کليوالي سيمو په باب له هرو ۱۰ کورنيو څخه يوازې ۶ کورنۍ دي(۳۸ شـکل) د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو تر منځ اوبو لاس رســي کې د کليوالي او ښـــاري سيمو تر مځ اختلاف له ۳۲،۹ سلني څخه ۳۴،۵ سـلني ته زيات شـوی دی. اوبو لاس رسـي کې د ښـاري او کليوالي سيمو تر منځ د اختلاف زياتوالی د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو تر منځ ښـاري سـيمو کې د دغو خدمتونو د زيات پرمختګ زيرنده دی، په داسـي حال کې چې د همدغو کلونو په بهير کې د کليوالي سـيمو حالت کم بدلون ندی موندلی، سـر بيره پر دې، په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې له هرو ۱۰ ښـاري کورنيو څخه ۸ کورنيو د عمومي روغتيا امکاناتو ته لاس رســـی درلود. په داســـي حال کې چې دغه شمير د کليوالي کورنيو لپاره له هرو ۱۰ کورنيو څخه يوازې درې کورنۍ وې. برېښـــــــنا ته د لاس رسي په باب د کليوالي سيمو او سيدونکي کابو له ښـاري سيموسـره په يوه کچه کې پرمختللي دي. په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې د ښـاري سـيمو کابو ۹۹سـلني اوسيدونکو برېښـنا لاس رسی درلود. هغه شمير چې په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو کې ۹۰ سلنه و. په همدې حال کې په کليوالي سيمو کې په برېښـــــــنا بر لاسی د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ او د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو تر منځ کابو له ۳۰،۵ سلني څخه ۸۶،۶ سلني ته يعني کابو درې برابره زيات شوی دی(۳۹ شکل) د ښه والي دغه بهير تر زياتي اندازې پوري له ۲۰۰۷- ۲۰۰۸ کلونو څخه په کليوالي سيمو کې په لمريزې انرژۍ د لاس برۍ د زياتوالي زيږنده دي.


۴۹ په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ د سروی پوښتنليک د عمومي توالتونو په آسانتياو پورې په اړونده پوښتنه کې يو بدلون طرحه کړ .د چلند دغه بدلون مور د زماني په اوږدو کې د عمومی روغتيا د ښه والي له پرتله کولو څخه منع کوي .يوازې په نړيوالو ستندردونو سره سم نوی تعريف چې د روغتيا د نړيوالې ادارې او د يونسف ادارې د ګډ څارنيز پروګرام له خوا تعريف شوی دی، په دې رپوټ کې ځای کړای شوی دی

**۳۸ شکل:** د ښځاک په روغتیایي اوبوته د لاس رسي بهیر، د استوګنې د سیمې په تفکیک سره





منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي ارزونې او څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبې او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**۳۹ شکل:** بریښنا د لاس رسی بهیر، د استوګنې د سیمې په تفکیک او بیلوالي سره





منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي ارزونې او څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبات او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**۴۰ شکل:** د ښځاک روغتیایي اوبو ته د لاس رسی بهیر، د بېوزلۍ د حالت په تفکیک سره




منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبات او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**۴۱ شکل:** بریښنا ته د لاس رسی بهیر، د بېوزلۍ دحالت په تفکیک او بیلوالي سره




منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي څېړنې د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبات او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**د ښځاک روغتیایي اوبو ته د لاس رسي په امکان کې د کلیوالي او ښاري سمیو تر منځ واټن د بېوزلو د استوګنې د سیمو د محرومیت منعکس کوونکی دی.** دښځاک د روغتیایي اوبو د خدمتونو د وړاندې کولو د بهیر زیاتوالی زیات د ټولنې د سوکاله قشر په ګټه دی.د بېوزلو او بډایو کسانو تر منځ درز په ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو کې له ۷،۵ سلنې څخه په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې ۱۲،۲ سلنې ته زیات شوی دی(۴۰ شکل).

په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ کلونو کې کابو ۵۷سلنې بېوزلو خلکو د ښځاک په روغتیایي اوبو ته لاس رسی درلود، په داسې حال کې چې د ښځاک په روغتیایي اوبو ته د منځنې قشر یا د لوړ قشر خلکو د لاس رسي کچه ۶۹،۲ سلنه وه. د نورو عمومي خدمتونو په نسبت د بېوزلو او بډایو خلکو لپاره د عمومي روغتیا ساتنې امکاناتو (د فاضلاب سیستم) ته د لاس رسي کچه ټیټه ده، په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې د بېوزلو کسانو د استوګنې د سیمو کابو ۲۹،۵ سلنې اوسېدونکو د پرمختللي عمومي روغتیایي امکاناتو ته لاس رسی درلود، په داسې حال کې چې دغه شمېر په منځنیو (لوړو) سیمو کې ۴۶،۵ سلنه وه.

**له بلې خوا، په کليوالي سيمو کې بريښنا ته د لاس رسي د حالت ښه والي د بيوزلو کسانو په ګټه د اختلاف د کچې له کمښت سره مرسته کړې ده.** له تيرو بهيرونو سره سم په کليوالي سيمو کې له شبکې څخه بهر د پوښښ په صورت کې بريښنا ته د لاس رسي په پراختيا سره د بيوزلو د استوګنې د سيمو اوسيدونکو د بريښنا نعمت ته د لاس رسي په نظر د بډايو کسانو د استوګنې له سيمو سره په يوه کچه کې دي. په ۲۰۰۷ـ ۲۰۰۸ کلونو کې د بيوزلو د استوګنې او د لوړو او منځنيو کچو د سيمو تر منځ اختلاف له ۱۶،۲ سلنې څخه په ۲۰۱۳ـ۲۰۱۴ کلونو کې ۷،۴ سلنې ته کمښت موندلی دی،(۴۱ شکل) په ۲۰۱۲ـ ۲۰۱۳ کلونو کې د بيوزلو د استوګنې د سيمو کابو ۸۴،۵ سلنې اوسيدونکو بريښنا ته لاس رسی پيدا کړ، په داسې حال کې چې دغه شمير په منځنيو او لوړو سيمو کې ۹۱،۹ سلنه وه.

# شلورم څپرکی

# له جګړې څخه کورنيو ته خطر او زيان مننه[50]:

**لنډيز:** د افغانستان د خلکو ژوند تل له لوړ ريسک او زيانمننې سره يوځای دی. که څه هم زياتره زيان منونکې ډولونه د افغانستان ټولو خلکو ته معمول او عادي بلل کيږي، خو د کليوالي بيوزلو کسانو د استوګنې د سيمو او سيدونکي له بيلابيلو شوکونو سره مخامخ دي او زيات احتمال شته چې له زيان رسوونکو مقابلوي ستراتيژيو څخه استفاده وکړي. د مقابلې دغه ستراتيژۍ په اوږد مهال کې زياتره د فزيکي او بشري ګټې اخيستنې د له منځه تللو سبب کيږي، چې ښايي په زياتو زيانمنونکو کورنيو کې د(بيوزلۍ د تلې) په نامه د چلنج د رامنځته کيدو سبب شي. د افغانستان د خلکو زيانمننه د هيواد د باثباتو حالاتو، تاوتريخوالي، جګړې او د نښتو په دليل پراخيږي او له مضــــــرو زيان رسوونکو مقابلوي ستراتيژيو څخه استفاده نه يوازې د سوکالۍ حالت ته په پاملرنې سره، بلکې د جګړو او نښـــتو سختوالي ته په پاملرنې سره په توپيري چلندونو سره تر سره کيږي، هغه کورنۍ چې په افغانســـــتان کې په جګړې ځپلو سيمو کې ژوند کوي په منځنۍ ډول زيات له شوک او زيانمننې سره مخامخ دي او د ټولنيز ملاتړ پروګرامونو ته د هغوی لاس رسی - د پيســـو د ليږدونې يا د خوړو په بدل کې د کار د پروګرام په شان بيخي کم دی، په تيره بيا په هغو سيموکې چې د جګړې او نښتې سختوالی پکې زيات دی.

## د مقابلې د شوکونو او ستراتيژيو په وړاندې زيانمننه

کابو غوڅ اکثريت افغان کورنۍ له خطرناکو او زيانمنونکو ريســــکونو سره مخامخې دي د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو تر سره شوي تجزيه او تحليل د هغو په وړاندې د افغان کورنيو د شوک او زيانمننې په سختوالي پورې پخوانۍ اړوندې نتيجې تائيدوي[51]
د شوکونو رامنځته کيدل څپاره دي او په سوکالۍ او بيوزلۍ دوامدارې اغيزې لري، اقتصـادي او مالي بې ثباتي، ناروغي او مړينه، طبيعي خطرونه او سياسي پيښـــــې د افغانســـــتان د خلکو، کورنيو او د ټولنيزو ډولونو په سوکالۍ اغيزمنې دي. دغه شوکونه د هغو کســانو لپاره چې له بيوزلۍ څخه ښکته يا د بيوزلۍ کرښې ته نږدې ژوند کوي او د هغو کســانو لپاره، چې د خاص شوک په نســبت زيانمنونکې ژوند لري( د مثال په ډول: هغه کليوالي کورنۍ چې د اوبو او هوا له ناڅاپي بدلونونو ســـــــــــره مخامخې دي) خاص خطرونه له ځانه سره راوړي.

**د زيات شـــوک را منځته کيدل د زيانمننې زمينه زياتوي او په نتيجه کې يې ځنې خطرونه هم زياتوالی مومي.** د تر لاســـه شـــويو رپوټونو له مخې د افغانستان زيات شمير خلک(۸۸ سلنه) څه ناڅه له يو شوک سره مخامخ دي[52]. او دغه شمير په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې لوړ شوی دی (۴۲ شکل) په تيره بيا د ټولنيزو شوکونو را منځته کيدل (Covariate) ډير لوړ او کابو ۸۴ سلنه ده. په مقابل کې د ځانګړو کورنيو شوکونو د رامنځ ته کيدو احتمال(کابو ۳۱ سـلنه ده، سره له دې هم د نړيوالو ستندردونو او معيارونو له مخې لوړ بلل کيږي.[53] ۲۰۱۴-۲۰۱۱ کلونو تر منځ د کورنۍ د ځانګړو شـــوکونو پيدا کيدل کابو ۹ ســـلنې زياتوالی درلود او د تر لاســــه شـــويو رپوټونو له مخې دليل يې په عمده توګه د کورنۍ د غړو په ټپونو، ناروغيو يا مړينې پورې د اړوندو شوکونو دوه برابره کيدل دي( له ۹،۵ سلنې څخه ۱۸،۶ سلنې ته) چې د جګړې او نښتې د زياتوالي له امله رامنځته کيږي.[54]


---

۵۰ په دې څپرکي کې زياته اخيستنه شوی: غرپادی، وای؛ جاستينو، پی؛ مورتون، ام؛ پاپ، ال . بی؛ و ريدايلی اس (راتلونکی).په افغانستان کې دکورنيو تصميمونه چې له ناامنۍ سره مخامخ دي.
۵۱ دافغانستان اسلامي جمهوريت داقتصاد وزارت (۲۰۱۵).
۵۲ شوک ديوې پيښې په وړاندې دواقع کيدلو په معنا دي ، چې له سروې څخه دمخه ۱۲مياشتو کې يې دکورنيو په ژوند منفي اغيزې کړې دي.
۵۳ ځانګړی شوک ( خاصه کورنۍ) په هغه شوک اطلاقيږي، چې يوازې په کورنۍ اغيزه کوي او له هغې څخه بهر چاپيريال پورې اړه نه لري، لکه مړينه، ټپي کيدل او يا وزګارتيا. په مقابل کې، جوخت شوک( د ټولنيزې کچې شوک) په ټولې ټولنې چې کورنۍ پکې شتون لري اغيزمن دی. په دغه شان شوک کې ۶ اصلي ډلې شامليږي، قيمتونه،کرنه، امنيت، پراخې ناروغۍ ، دځښاک اوبه او طبيعي خطرونه
۵۴ د ځانګړي شوک له امله د زيانمنو شويو کورنيو جبري مهاجرت او بيځايه کيدل ښايي وکولای شي د پيښو او د دغه شان شوک د را منځته کيدو د شمير تر منځ نه ارتباط توجيه کړي. لکه څنګه چې په لومړي څپرکي کې څرګنده شوه هره امنيتي پيښه( تلفات) په منځنۍ ډول له هغو هرو ۱۰ تنو څخه د ۹ تنو د بيځايه کيدو سبب کيږي، چې د استوګنې له اصلي سيمې څخه يې بيځايه کيږي

په حقیقت کې په داسې حال کې چې د سیمې په کچه د ځانګړو کورنیو شوکونو د شمیر او د جګړو له امله د رامنځته شویو پیښـــو د شمیر تر منځ هیڅ مستقیمې اړیکې شتون نه لري خو د تر لاسه شویو رپوټونو له مخې هغه کورنۍ چې بېځایه شوي دي. څه د پاسه ۱۰ سلنه د کورنۍ د یوه غړي د تپي کیدو، ناروغیو او یا د مړینې له خطر سره مخامخې دي. سربیره پر دې، هغه کورنۍ چې د سـیمه ییزو رپوټونو له مخې( د دوی له خوا د رپوټونو له مخې) خپلې سیمې یې د ناامنو سـیمو په توګه معرفي کړې، زیات احتمال شـته، چې د ځانګړو شوکونو له خطر سره مخامخې شي.


د زیاتو شـوکونو له خطرســره مخامخ کیدل( ۳ ځلې یا زیات) هم احتوا کوي. خو د ۲۰۱۱-۲۰۱۴ کلونو په بهیر کې د هغو کورنیو شمیر، چې د زیاتو شوکونو له خطر سره مخامخې کیږي، کم شوی دی( له ۵۳ سلنې څخه ۵۱ سلنې ته رسیدلی دی) او دلیل یې په عمده توګه په اوبو پورې د اړونده شوک د شمیر ټیټوالی( هم د څښاک اوبو او هم د کروندو د خړوبولو اوبو)، د ژمي په فصل پورې اړوند شرایط او قیمتونه دي( ۴۳ شکل).

**۴۲ شکل:** د شوک رامنځته کیدل، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴




منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي خیرني دارزوني د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبې او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**۴۳ شکل:** له شوک سر مخامخ کیدل، د نوعیت له مخې ډلبندی، دوره ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-





منبع :د ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ د خطر او زیانمنني د ملي خیرني او ارزوني د معلوماتو له مخې د لیکوالو محاسبې او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**د افغانستان به بیلابیلو سیمو کې د خطرونو سختوالی او ماهیت توپیر لري.** لکه څنګه چې په پخواني سندکې د بیوزلۍ د حالت څېړنه بیان شوه، په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلونو کې، هغو کورنیو، چې د جنوب مرکزي (West-central) ، شمال ختیځو او د ختیځو ولایتونو په بیرته پاتې سیمو کې ژوند کاوه، زیات شوکونه تجربه کړل او په تیره بیا د طبیعي پېښو له امله یې زیانونه ولیدل. دغه حالت په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ دوره کې نه دی بدل شوی(۴۴شکل). د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو د معلوماتو تحلیل هم د دې څرګندوی دی، چې په بیلابیلو سیمو کې د شوکونو د رامنځته کیدو کچې او څرنګوالي توپیر درلود. په داسې حال کې چې د قیمت له امله رامنځته شوی شوک په زیاترو سیمو کې شتون درلود، په بیرته پاتې سیمو کې کورنۍ له نورو څخه زیات د طبیعي پېښو له امله د رامنځته شویو شوکونو له خطر سره مخامخې دي. [55] د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ دورې پر خلاف، په ۲۰۱۳- ۲۰۱۴ دوره کې په دوو سیمو (لویدیځ او جنوب) کې ځانګړي شوکونه (idiosyncratic shocks ) د ډیرو خپرو شویو شوکونو یوه برخه وه او کورنیو په ختیځو سیمو کې په ساري ناروغیو د اخته کیدو د خبرداري ورکوونکې کچې رپوټ ورکړی دی، په لویدیځو سیمو کې کورنیو د ډیرو خاصو او ځانګړو شوکونو رپوټ ورکړی دی/ په دې سیمه کې ۳۷ سلنې کورنیو د کورنیو د غړیو د تېپي کیدو، ناروغۍ یا د مړینې رپوټ ورکړی دی.

۵۵ د طبیعي پیښو له امله د رامنځته شویوی شوکونو خپریدل په عمده توګه د ناوړو پیښو په دلیل په ژمي پورې اړه لري،د سختو ژمیو، کنګلونو او سیلاب په شان


۵٦ دملګروملتونو دپناه اخیستونکو دعالي کمیسارۍ درپوټ له مخې لویدیزه سیمه په ۲۰۱۱- ۲۰۱۴ کلونو په دوره کې زیاتو بې ځایه شوو کورنیو میلمپاله کوربنه وه.(په مجموعي توګه)

**۴۴ شکل:** د شوکونو سیمه ییز ځرګندوی ۲۰۱۳-




منبع: په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د سروې له مخې د لیکوالو محاسبې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**۴۵ شکل:** د لګښتي Quintile له مخې د شوکونو منځنی شمیر، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ او ۲۰۱۳-۲۰۱۴





منبع: د خطر او زیانمنتي د څیړنې او ارزونې له مخې د لیکوالو محاسبات ۲۰۱۱-۲۰۱۳ او په افغانستان کې د ژوندانه د حالت سروې ۲۰۱۳-۲۰۱۴.

**ډیرې بیوزلې کورنۍ د شوکونو په وړاندې زیاتې زیانمنونکې دي.** لکه څنګه چې په پخوانې سند کې د بیوزلۍ د حالت څیړنه بیان شوه د شوک او بیوزلۍ په وړاندې زیانمننه نه شلیدونکی پیوند لري د شوک په وړاندې زیانمننه د ریسک د شتون او له هغو سره د مقابلې د ځواکمنۍ تر منځ د تعامل له مخې ټاکل کیږي. هغه کورنۍ چې د شوک له خطر سره مخامخې دي خو له هغه سره د مقابلې وسایل لري پرته له دې چې خپل چلند په یو ډول نه یو ډول بدل کړي، چې سوکالي یې تر اغیزې لاندې ونیسي، د شوک او بیوزلۍ په وړاندې ډیره ناچیزه زیانمننه لري. بر عکس، دریسک د کمښت او له هغه سره د مقابلې لپاره د لازمو وسایلو نه لرونکې کورنۍ له زیاتو شوکونو سره د مخامخ کیدو په خطر کې دي او راتلونکې بیوزلۍ او یا د ژورې بیوزلۍ په وړاندې زیاتې زیانمنونکې دي، آن که چیرې هغوی په هغو سیمو کې چې زیات له شوک سره مخامخې دي ژوند وکړي، زیانمننه یې زیاتوالی مومي[57] لکه څنګه چې په (۴۵ شکل) کې ښودل شوي دي، ۲۰ سلنې ډیر بیوزلي افغانان د شوک په وړاندې زیانمنونکي دي او په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ دوره کې په منځنۍ ډول له ۴ شوکونو سره مخامخ شوي دي، په داسې حال کې چې ۲۰ سلنه ډیر بډایه افغانان په منځني ډول له ۲،۵ شوکونو سره مخامخ شول دغه له څو شوکونو سره مخامخه او زیرمه شوې تجربه د کورنیو په تصمیمونو او سوکالۍ زیاتې اغیزې لري.

**... او په زیات احتمال سره د مقابلې په هغو ستراتیژیو ډډه لګوي، چې د هغوی د اوسني او راتلونکې تولیدي ظرفیت او د بیوزلۍ په حالت کې منفي اغیزه لري.** له څلورو برخو څخه دري برخې هغو افغانانو، چې په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ دوره کې له شوک سره مخامخ شول، په یو ډول نه یو ډول د مقابلې له میکانیزم څخه استفاده وکړه، چې وروسته دې ته اړ شول چې پایله یې وزغمې. له دې سره سره، د مقابلې ټولې ستراتیژۍ د شوکونو د اغیزو د کمښت په باب اغیزو کې له یوې بلې سره برابرې نه دي. په تیره بیا، د خوراکي لګښت د کمښت، د انساني پانګې په برخه کې د پانګونې د نفی یا د تولیدوونکو شتمنیو د کمښت په شان ستراتیژۍ زیات احتمال لري، چې د کورنیو د ژوندانه په حالت دایمي( زیانمنونکې) پایلې ولري.[58] د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ معلوماتو تحلیل تائیدوي، چې ډیرې بیوزلې کورنۍ زیات احتمال لري، چې له دغه شان زیانمنوونکو ستراتیژیو سره مقابلې ته ور ودانګي، لکه څنګه چې په (۴۶ شکل) کې ښودل شوي دي، له ۲۰ سلنو ډیرو بیوزلو افغان کورنیو څخه کابو ۴۰ سلنه له شوک سره د مخامخ کیدو په وخت کې له زیانمنوونکو میکانیزمو سره مقابله کوي، په داسې حال کې چې له ټولې ۲۰ سلنې ډیرو بډایو افغان کورنیو څخه یوازې ۲۴ سلنه په دې کار لاس پورې کوي. که چیرې د مقابلې د زیانمنوونکو ستراتیژیو کارول چې د بیوزلو افغانانو له خوا (۳۸سلنه او د بډایو افغانانو له خوا ۲۹ سلنه) استفاده کیږي وسنجول شي یو لړ ورته الګوګانې او نمونې تر لاسه کیږي.

**۴۶ شکل:** د مقابلې له زیانمنونکو ستراتیژیو څخه استفاده، د سوکالۍ د حالت له مخې




یادونه: د شوک په تجربې پورې مشروط
منبع: په افغانستان کې د بیوزلۍ د حالت د سروې له مخې د لیکوالو محاسبې ۲۰۱۳-۲۰۱۴


۵۷ دافغانستان اسلامي جمهوریت داقتصاد وزارت (۲۰۱۵)

۵۸ استراتیژی های ذیل برای مقابله با شوک ها، "مضر" قلمداد می شود، یعنی مانع رفاه دراز مدت خانوارها می شود: کاهش کمیت یا کیفیت مواد تغذیه ای، کرایه یا گرو زمین ، فروش دارایی ها، زمین یا مواشی ماده تولید مثل کننده، خارج کردن اطفال از مکتب، افزایش کار کودکان، و به عروسی دادن اطفال.

## شوکونه او شخړې

**تاوتریخوالی او نا امني افغان کورنیو ته زیات خطر متوجه کوي** . شخړه او نا امني د افغان کورنیو د زیانمنني یو مهم اړخ دی. کابو ۱۷ سلنې کورنیو رپوټ ورکړی دی چې په ۲۰۱۳ - ۲۰۱۴ دوره کې د نا امني له امله د را منځته شوي شوک له خطر سره مخامخې شوې دي، هغه شمیر چې په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلونوکې، ۱۵ سلنه و. د امنیتي شوکونو رامنځته کیدل په شمال ختیځ کې له نورو سیمو څخه (۲۶ سلنه)، په لویدیځ کې( ۲۵سلنه) او په جنوب لویدیځ کې (۲۴ سلنه) زیات وو او له ټولو څخه زیات یې کلیوالي کورنۍ اغیزمنې کړې دي( ۲۰ سلنه، د ښاري کورنیو د ۷ سلنې په وړاندې) (۴۷ شکل) د هغو امنیتي شوکونو را منځته کیدل چې د کورنیو له خوا یې رپوټ ورکړ شوی دی په عمده توګه د جګړې د پیښو له را منځته کیدو سره چې د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت او ایمني دفتر (UNDSS) له خوا رپوټ ورکړ شوی دی، اړخ لګوي. په تیره بیا هغه سیمې او ساحې چې کورنیو په هغو کې د زیاتو امنیتي شوکونو رپوټ ورکړی دی، هغو ساحو ته ورته دي چې زیاتره کورنۍ په لانجمنو سیمو کې متمرکزې دي.

**۴۷ شکل:** د خلکو له خوا د رپوټ ورکړای شویو امنیتي شوکونو رامنځته کیدل او ربښتیني شخړه





یادونه: هغه کورنۍ چې په لانجمنو سیمو کې ژوند کوي هغو کورنیو ته ویل کیږي، چې له منځنې اندازې څخه زیاته په لانجمنو سیمو کې یعنې په ۲۰۱۴ کال کې له هرو ۱۰۰۰ اوسیدونکو څه په یوه امنیتي پیښه کې ژوند کوي.
منبع: په افغانستان کې د بیوزلۍ د حالت دسروې له مخې د لیکوالو او د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت او د ایمني دفتر (UNDSS- SIOC)د امنیتي معلوماتو او عملیاتو د مرکز محاسبې ۲۰۱۳-۲۰۱۴

**شخړه د کورنيو زيانمننه زياتوي. هغه کورنۍ چې په لانجمنو سيمو کې ژوند کوي د زياتو شوکونو له خطر سره مخامخې دي.** په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کال د سروې د معلوماتو له مخې، ۵۳ سلنه کورنيو په لانجمنو سيمو کې د ۳ (غير امنيتي) شوکونو يا له دې څخه د زياتو رپوټ ورکړی دی، په داسې حال کې چې د دغه شمير په کمو لانجمنو سيمو کې ۴۳ سلنه دی. د مثال په ډول: هغو کورنيو، چې په لانجمنو سيمو کې ژوند کوي په منځنۍ ډول زياتره د غير امنيتي شوکونو (۳،۳ شوکونو) رپوټ ورکړی دی، د هغو کسانو په پرتله چې په کمو لانجمنو سيمو کې ژوند کوي(۳،۰ شوکونه). د شخړې د سختوالي له مخې د شوکونو څرنګوالی هم توپير لري. په تيره بيا هغه کورنۍ چې په لانجمنو سيمو کې ژوند کوي زيات احتمال لري چې کرنيز شوکونه، د طبيعي زيانونو شوکونه او نور شوکونه شتون ولري، لکه څنګه چې ښايي امنيتي شوکونه تجربه کړي(۴۸ شکل). د زياتو انساني ناروغيو خپريدل کيدای شي په لانجمنو سيمو کې د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو د کمزورتيا نښه نښانه وي، په داسې حال کې چې د کرنيزو شوکونو رامنځته کيدل کولای شي د توليد په څرخ کې او د بازار په کړو وړو کې ګډوډې او اختلال منعکس کړي، چې د شخړې زيږنده دي. په زړه پورې دا ده چې لانجمنې سيمې د زياتو ځانګړو شوکونو له رامنځته کيدو سره اړيکې نه لري، ښايي د ځای پر ځای کيدو (بيځايه کيدو) په دليل د هغو کورنيو انتخاب، چې په مستقيم ډول د دغه شان شوکونو تر اغيزې لاندې دي زيانمنې کړي.


**د شخړې له خطر سره مخامخ کيدل زياتره د مقابلې په زيانمنونکو ستراتيژيو او د انساني پانګې په برخه کې په کمې پانګونې په ډډې لګولو سره، په تيره بيا په بيوزلو کورنيو کې، پيوند لري .** لکه څنګه چې په (۴۹ شکل) کې ښودل شوي دي، هغه افغاني کورنۍ چې په لانجمنو سيمو کې ژوند کوي د هغوې د بيوزلۍ د حالت په پام کې نيولو پرته، د هغو کسانو په پرتله چې په کمو لانجمنو سيموکې ژوند کوي، زيات احتمال لري، چې د مقابلې له زيانمنونکو ستراتيژيو څخه کار واخلي، شخړه دغه راز له دغه واقعيت سره پيوند لري چې زيات احتمال شته، چې د لومړنيو زدکړو د دوري ماشومان (نه دي ښودل شوي) او د منځنۍ دوري ماشومان (په تيره بيا نجونې) ښوونځي ته لاړې نشي او د کار لپاره له کوچنيو هلکانو څخه استفاده هم زيات احتمال لري.

**۴۸ شکل:** د شخړې د سختوالي په تفکيک سره د شوک رامنځته کيدل او د شوک څرنګوالی،۲۰۱۳-۲۰۱۴




يادونه: کمزورۍ شخړه هغه سيمې ښيي، چې لږې نا څيزې جنګي پيښې (له منځنۍ اندازې څخه ښکته) يعنې له هرو ۱۰۰۰ اوسيدونکو څخه يوه امنيتي پيښه لري.
زوروره شخړه هغه سيمې ښيي چې لوړې جنګي پيښې ( له منځنۍ اندازې څخه پورته ) يعنې له هرو ۱۰۰۰ تنو اوسيدونکو څخه يوه امنيتي پيښه لري. په يوه سيمه کې د جنګي پيښو شمير له سروې څخه مخکې د ۱۲ مياشتو په دورې پورې اړه لري.
منبع: په افغانستان کې د بيوزلۍ د حالت د سروې له مخې د ليکوالو محاسبې ۲۰۱۳-۲۰۱۴ او د امنيتي معلوماتو او عملياتو دمرکز رپوټونه.

**۴۹ شکل:** د شخړې د سختوالي او د بیوزلۍ د حالت په تفکیک او توپیرسره د مقابلې زیانمنونکې ستراتیژۍ





یادونه: کمزورې شخړه هغه سیمې ښيي، چې لږې نا څیزې جنګي پېښې (له منځنۍ اندازې څخه ښکته) یعنې له هرو ۱۰۰۰ اوسیدونکو څخه یوه امنیتي پېښه لري.
زوروره شخړه هغه سیمې ښيي چې لوړې جنګي پېښې ( له منځنۍ اندازې څخه پورته ) یعنې له هرو ۱۰۰۰ تنو اوسیدونکو څخه یوه امنیتي پېښه لري. په یوه سیمه کې د جنګي پېښو شمیر له سروې څخه مخکې د ۱۲ میاشتو په دورې پورې اړه لري.
منبع: په افغانستان کې د بیوزلۍ د حالت د سروې له مخې د لیکوالو محاسبات ۲۰۱۳-۲۰۱۴ او د امنیتي معلوماتو او عملیاتو دمرکز رپوټونه.

## ټولنیز مصؤنیت ته لاس رسی

**دغه مسئله چې افغانان له زیاتو ریسکونو او کړکیچونو سره مخامخ دي، د ټولنیز مصؤنیت په اړتیا، په تیره بیا په نسبي ډول د بېوزلو او کلیوالي کورنیو لپاره ټینګار کوي.** په یوه وخت د ډېرو زیاتو خپرو شویو شوکونو ماهیت د سیمه ییز ملاتړ او د غیر رسمي ایمنۍ شبکو اغیزمنتوب کموي، څکه د کورنۍ یا د ټولنې نور غړي چې ښایي مرسته وکړي هم په خطر کې دي. سربېره پر دې بې ثباتي او د شوکونو زیاتوالی د کورنیو یا حکومت لپاره د ریسکونو د اټکل د سختوالي څرګندوی دي. په عمومي ډول، مهمه ده هغه وسایل چې کولای شي منظمه او د اټکل وړ مرسته وړاندې کړي او ډېرې زیانمنونکې کورنۍ سنجش کړي او هدف وګرځوي، وپیژندلې شي. د حکومتونو مالي سرچینې له هغه څخه محدودې دي چې وکولای شي ټولنیز مصؤنیت برابر کړي. د وسایلو په پام کې نیولو پرته، ډېرو زیانمنونکو کورنیو د پېژندنې او د ښیګڼو د وړاندې کولو لپاره د یوه ډېر اغیزمن او قوي سیستم لرل د ټولنیز مصؤنیت د یوې ډېرې اغیزمنې ستراتیژۍ بنسټ جوړوي.

**په افغانستان کې د ټولنیزو مرستو په برخه کې عامه لګښتونه، د نړیوالو ستندردونو او معیارونو په پرتله، ډېر ټیټ دي او تر زیاتې اندازې پورې د تمویلوونکو سرچینو په نه اعتماد وړ مرستې پورې اړه لري.** د ټولنیز مصؤنیت په اصلي پروګرامونو کې د غیر منظمو عامه کارونو له لارې د نغدو پیسو ورکول، د بشر دوستانه مرستې رسولو پروګرامونه )د کار په بدل کې خواړه او پیسې (او نور کوچني ازمایښتي یا بشر دوستانه پروګرامونه شامل دي، د ټولنیز مصؤنیت په برخه کې د افغانستان د ل ګښتونو زیاته برخه جنګي ټپیانو، په جګړو کې د وژل شویو کسانو کورنیو او معلولیت لرونکو اشخاصو ته د نغدو پیسو ورکول، ) د تقاعد د معاش په ډول)، اختصاص لري .د نورو پرمختیایي او جګړې ځپلو هیوادونو په پرتله بیوزلو، زیانمنونکو کسانو یا د مزدورانو (Labor-intensive)عامه کارونو ته د نغدو پیسو د ورکولو په شان د ټولنیز مصؤنیت شبکو ته، بیلوي(۵۰ شکل).


**۵۰ شکل:** د کورني نا خالص تولید د یوې برخې په توګه د ټولنیزو مرستو په برخه کې ټول لګښتونه (په بودجه کې)




منبع: د لیکوونکی محاسبه د نړیوال بانک د آسپایر دیتابیس پر اساس دی ۰۳/۳۱/۲۰۱۶ د افغانستان دباره: د لیکونکی محاسبه د کار او ټولنیزو چارو د وزارت د راپورونو پر اساس دی


**په افغانســـتان کې ټولنیز مصـــؤنیت یوه لړه او ناچیزه برخه تر پوښښ لاندې نیســـي او په کمزورې ډول د ډېرو بیوزلو او زیانمنونکو کورنیو په باب متمرکز دی.** په ۲۰۱۲-۲۰۱۴ دوره کې، یوازې د ټولو افغان کورنیو یوازې ۶ سـلنه د کار په بدل کې د خوړو، د کار په بدل کې د پیســو یا د هر راز عایداتي فعالیت په شان د ټولنیز مصـــؤنیت په پروګرام کې شامل وو.[59] (۵۱ شکل) نه یوازې د ټولنیز مصؤنیت د پوښښ ساحه لږه او نا څیزه ده، بلکې د امتیاز اتو مشمولیت هم په ډېر نا څیز ډول تصاعدي حالت لري. د ټولو بیوزلو کورنیو ۸ سلنه له رسمي ټولنیز مصـؤنیت څخه ګټه اخلي.د ۶ سلنې بډایو کسـانو په پرتله. سربیره پر دې د ۵ برخې ۸ سلنه ډېرې بیوزلې کورنۍ (quintile) د ټولنیز مصـؤنیت د میکانیزمونو تر پوښښ لاندې دي. د ډېرو بډایو کسـانو د ۵ برخې د ۵ سلنې په پرتله. د مثال په ډول: د شوک له خطر سره مخامخ کورنیو د ملاتړ لپاره د افغانستان د ټولنیز مصـؤنیت سیسـتم د مناسب نه دی. په حقیقت کې، لکه څنګه چې په (۵۲ شـکل) کې ښـودل شـوي دي، د هغو کورنیو له خوا چې شـوک یې نه دی تجربه کړی د رسمي ټولنیز مصؤنیت د تر لاسه کولو احتمال، د هغو کورنیو په پرتله کم دی چې یو شوک یا له دې څخه زیات یې تجربه کړي دي.

**۵۱ شکل :** ټولنیز مصؤنیت ته لاس رسی، د سوکالۍ د حالت په تفکیک سره ۲۰۱۳-۲۰۱۴




منبع: په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د سروې له مخې د لیکوالو محاسبې، ۲۰۱۳-۲۰۱۴ .

**۵۲ شکل:** ټولنیز مصؤنیت ته لاس رسی، د شوک د رامنځته کیدو په تفکیک سره ،۲۰۱۳-۲۰۱۴





منبع: په افغانستان کې د ژوندانه د حالت د سروې له مخې د لیکوالو محاسبات، ۲۰۱۳-۲۰۱۴ .

**په هغو سیمو کې چې جګړې او اړتیاوې زیاتې دي، ټولنیز مصـــؤنیت ته لاس رسی ټیټ دی.** لکه څنګه چې هیله کیږي په جګړې ځپلو سیمو کې د ټولنیز مصـؤنیت پوښښ ډېر ټیټ دی (۵۳ شکل). د غه قضــیه په تیره بیا د بیوزلو افغانانو تر منځ صدق کوي/ په لږو جګړې ځپلو سیمو کې ۱۳ سلنې بیوزلي کسـان په یو ډول نه یو ډول د ټولنیز مصـــؤنیت د پروګرامونو تر پوښښ لاندې دي، په داسې حال کې چې په جګړې ځپلو سیمو کې یوازې ۳ سلنه بیوزلي کسـان رسمي ټولنیز مصـــؤنیت ته لاس رسی لري. سربیره پر دې، په داسې حال کې چې په کمو جګړې ځپلو سیمو کې ټولنیز مصـــؤنیت د پرمختګ په حال کې دي، په زیاتو جګړې ځپلو سیمو کې قضیه دغه شان نه ده. د ټولنیز مصـؤنیت د پروګرامونو اجرا کول له کټ مټ چلنجونو سره مخامخ دي لکه څنګه چې په جګړې ځپلو سیمو کې نور ډول ډول خدمتې پروګرامونه ورسره مخامخ دي. په امنیتي حالتونو کې د ښه والي په نشـــــتوالي سره، له بده مرغه په دغو سیمو کې د ټولنیز مصؤنیت د خدمتونو د وړاندې کولو د ښه والي لپاره د حل روښانه لاره شتون نه لري.

59 د ټولنیز مصؤنیت له ټولو ترلاسه کوونکو کورنیو څخه، ۲۲ سلنې د کار په بدل کې خواړه ترلاسه کړل، ۷۸ سلنې د کار په بدل کې نغدې پیسې ترلاسه کړې. او یوازې ۱ سلنې په عایداتي پروګرام کې مشارکت وکړ، کابو ۱ سلنې له دواړو پروګرامونو د کار په بدل کې له خوړو او د کار په بدل کې له پیسو څخه ګټه واخیسته.

**۵۳ شکل:** **د سوکالۍ د حالت او د شخړې د سختوالي په تفکیک او توپیر سره تولنیز مصؤنیت ته لاس رسي،۲۰۱۳-۲۰۱۴**




یادونه: کمزورۍ شخړه هغه سیمې ښيي چې نا څيزې جنګي پېښې (له منځنۍ اندازې څخه ښکته) یعنې له هرو ۱۰۰۰ اوسیدونکو څخه یوه امنیتي پېښه لري.
زوروره شخړه هغه سیمې ښيي چې لوړې جنګي پېښې ( له منځنۍ اندازې څخه پورته ) یعنې له هرو ۱۰۰۰ تنو اوسیدونکو څخه یوه امنیتي پېښه لري.
په یوه سیمه کې د جنګي پېښو شمیر له سروې څخه مخکې د ۱۲ میاشتو په دورې پورې اړه لري.
منبع: په افغانستان کې د بیوزلۍ د حالت د سروې له مخې د لیکوالو محاسبات ۲۰۱۳-۲۰۱۴ او د امنیتي معلوماتو او عملیاتو دمرکز رپوټونه

# پنځم څپرکی
# کلیدی پیغامونه

د بیوزلۍ د حالت د تحلیل د رپوټ د دغې دویمې نسخې اصلي نتیجه دا ده چې افغان کورنۍ په منفي ډول له امنیتي او سیاسي لېږدونې څخه د رامنځته شوي بحران له امله اغیزمنې شوې دي. نه یوازې د مرستې او د اقتصادي ودې کمښت د کاري فرصتونو د کمښت سبب شوي دي، بلکې د شخړې سختوالي هم د افغان کورنیو پیچلې زیانمنونکې حالت زیات کړی دی.
د لېږدونې او انتقال د دورې په بهیر کې د بیوزلۍ چلنج په بشپړ ډول قدرت سره څرګند شو. سختې بیوزلۍ د افغانستان ۳۹ سلنه وګړي اغیزمن کړي دي او مخ په زیاتیدو ده، د کار بازار نشي کولای د چټکې ودې د کار ځواک ته ځواب ووایي او د هغو افغانانو لپاره چې اساسي سواد او دشمیرنې او حساب مهارتونه نه لري، معیشت تامین کړي، سربیره پر دې د شخړې خپریدل او سختوالي، په جبري توګه له خپلو کورونو څخه یو شمیر کورنیو بېځایه کول، له ښوونځي څخه د یو زیات شمیر ماشومانو محرومیت او له خپل معیشت څخه د ریسک او محافظت د مدیریت په کار کې د کورنیو لپاره د انتخابونو محدودول د بیلابیلو نسلونو تر منځ د بیوزلۍ د لېږدونې سبب کیږي. اقتصادي او امنیتي بحران یوځل بیا د ژورې او پراخې نا برابرۍ سبب شوی دی، د هغو کسانو تر منځ نا برابري چې د شوک له منفي پایلو سره د مقابلې وسایل په واک کې لري او هغه کسان چې مجبور دي خپل ننی پایښت د سبا د بیوزلۍ په بیه وپیري، د هغو کسانو تر منځ چې په ښارونو کې ژوند کوي او کولای شي له ښه امنیت، په خدمتونو له لاس برۍ او له اقتصادي فرصتونو څخه ګټه واخلي او هغه کسان چې په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او د هغو افغان ښځو او نارینو تر منځ چې تعلیمي او روغتیایي خدمتونو ته لاس رسي یې ورځ په ورځ زیاتیدونکي توګه په خطر کې دی.
د بیوزلۍ او نا برابرۍ چلنجونو او ننګونو ته د نه پاملرنې او ځیرنې په صورت کې، دغه چلنجونه کولای شي تولنیز سمون کمزورۍ او هغه پرمختګ چې په تیرو ۱۵ کلونو کې یعنې د طالبانو د رژیم له رانسکوریدو وروسته په سختۍ سره تر لاسه شوی دی د له منځه تللو له خطر سره مخامخ کړي. د دغه رپوټ نتیجې د پالیسۍ په برخه کې څو بنسټیز ملاحظات وړاندې کوی.

**لومړی، د امنیتي او اقتصادي حالت له ښه والي پرته سخته ده وکولای شو د بیوزلۍ او نا برابرۍ له چلنجونو سره مقابله وکړو.**
په حقیقت کې، له لېږدونې او انتقال څخه د مخکې پړاو په بهیر کې د بیوزلۍ محرکو عواملو وښودله چې اقتصادي وده په یوازې توب سره نشي کولای بیوزلي کمه کړي، خو کله چې پراخ بنسټونه ولري، د اقتصادي ودې نشتوالی په شدت سره بیوزلي زیاتوي، دغه رپورټ څرګندوي چې څه ډول داقتصادي ودې کموالی دغربت دزیاتوالي او په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې دبیکارۍ دزیاتوالي سبب کیږي. دکمزورې اقتصادي ودې تر څنګ ناوړه امنیتي حالت او شخړې ددې سبب شوي ،چې افغانان له یوې ورځې نه بلې ته زیات دخپلو کورونو او مالونو پریښودلو ته اړوځي. او په ښارونو کې ستونزمن ژوند ځانته غوره کړي. په اوسنیو جګړیزو حالاتو کې اقتصادي وده ستونزمنه ده. له څنګه چې په بروکسل کې دافغانستان په اړه وروستي کنفرانس[60] کې بحث پرې وشو ، دغربت کمښت په افغانستان کې پراخې او هراړخیزې اقتصادي ودې ته اړتیا لري. دمخه باید دکرنې سکټور دکوچنیو کروند ګرو ملاتړ کوونکی اوسي، دسوداګریزو محصولاتو له پاره زیات ارزښت، کرنیزو مارکیټونو ته لاس رسی، دکلیو او ښارونو ترمینځ اړیکی د دولت په وړاندې دفقر او غربت دکمښت او په نورو سکټورونو کې دکارونو او کسبونو رامینځته کول تشکیلوي.[61]

٦٠ وګورئ: نړیوال بانک (۲۰۱۶)
۶۱ په افغانستان کې دنړیوال بانک دکرنې دسکټور د ننګونو اوفرصتونو په هکله دمفصل بحث له پاره وګورئ نړیوال بانک (۲۰۱۴).

**دويم، هغه موضوع چې له لومړي ټکي سره نږديوالی لري، د جمعيت اوسنی ديناميک تر زياتې اندازې پورې پاېښتي نه دی او د نړيوال مهاجرت لپاره د قانوني لارو د پيدا کولو او ملاتړ لپاره فعال تدبير ته اړتيا لري.** د وزګارتيا بحران، چې د لېږدونې او انتقال له بحران سره جوخت پيدا شو، د چټکې ودې د ځواک د جذبولو لپاره د کارموندلو ځلنج او ننګونه، چې په اوس وخت کې کال په کال کابو ۴۰۰۰۰۰ تنه افغانان زياتيږي، څرګند کړ. په داسې چاپيريال کې چې شخړې او کمزورې اقتصادي ودې هغه پيچلې کړې دی، له پاکستان، ايران او اروپا څخه د سند لرونکو او بې سندو سلګونو زرو تنو مهاجرينو بيرته راستنيدل د وزګارتيا ستونزه پراخوي په دغه شان حالت کې لازمه ده چې زياته پاملرنه د مهاجرت لپاره د قانوني تګلورو د مديريت او انتخاب لپاره واړول شي.[62]

**دريم، په افغانستان کې د بيوزلۍ او نابرابرۍ ځلنجونه او هم د هغه د اقتصادي ودې له لرليد په ښه والي ونه مومي، خو دا چې د انساني پانګې په برخه کې په پانګوني سره د لويانو د تعليم په شمول يوزای شی.** سربيره پر دې په افغانستان کې د بيوزلۍ او نابرابرۍ محرکو عواملو د ټولنيز - اقتصادي شموليت لپاره د پوهنې په برخه کې د پانګوني اهميت په ډاګه کړی دی. په حقيقت کې، نه يوازې بيسواده کسان په دې نه دي بريالي شوي له هغو ښوو اقتصادي فرصتونو څخه، چې له ۲۰۱۲ څخه مخکې د هميشنۍ ودې د کلونو په بهير کې و، ګټه واخلي بلکې له ټولو څخه زيات د لېږدونې د دورې په بهير کې د وزګارتيا د بهير له امله، اغيزمن شوي دي. له ښوونځي څخه د يو زيات شمير ماشومانو په محروميت سره د شخړې د دوامدارې او د زياتيدونکې نابرابرۍ په توګه، لازمه ده په پوهنې د بيوزلو وګړو او د کليوالي سيمو د لاس برۍ او هم د تعليمي بهيرونو د تطبيق ښه والي ته) دويم فرصت( د هغو لويانو لپاره چې د ښوونځي ارزښتناک کلونه يې له لاسه ورکړي دي، زياته پاملرنه وشي. په تيره بيا د حياتي ليک لوست د مهارتونو تامينول او د شغلي يا کار کسب مهارتونو او حساب تامينول د افغانستان د ټولنې د ډېرو زيانمنوونکو برخو لپاره د فرصتونو د برابرولو په لاره کې له لويانو سره مرسته کوي او په پای کې په اوږد مهال کې د اقتصادي ودې او د بيوزلۍ د کمښت سبب کيږي.

**وروستی خو د زيات اهميت لرونکی. دا چې بشري منابع او سرچينې بايد په مستقيم ډول د مصؤنيت د شبکې د سيستم د جوړولو لپاره بيوزلو کسانو ته اختصاص کړای شي.** د افغان کورنيو د بيوزلۍ ځلنج او د شوک په وړاندې د هغوی سخته زيانمننه په ښه توګه پيژندل شوې ده او په افغانستان کې د ريسک د موضوع پيچلتيا هم د همدې موضوع زيږنده ده. سره له دې هم، هيواد هر اړخيز سيستم او د مصؤنيت کټوره شبکه نه لري د دغه شان سيستم د نه جوړولو او په څو کوچنيو او خورو ورو طرحو د ډېر لګولو ستر دليل چې د بشر دوستانه بوديجې له لارې تمويليږي د منابعو محدوديت ويل کيږي. د اقتصادي ودې د ملاتړې پانګونې د لومړيتوب د ټاکنې په ملاتړ کې زيات استدلالونه، انساني پانګونه يا خدمتونو ته برلاسي او لاس رسی بيانيږي، خو دغه استدلالونه نه شي کولای ځواب ورکړي چې څه ډول د مصؤنيت د شبکې يو اغيزمن سيستم کولای شي فرصتونه پياوړي او برابر کړي او د دغه شان پانګونې عوايد زيات کړي. سمه ده چې د کرنې په برخه کې پانګونه ښايي د وګړو له ډېرې بيوزلۍ سره مرسته وکړي او دغه راز له پراخې ودې سره مرسته وکړي، خو آيا که چيرې بيوزلې کورنۍ د شوکونو له منفي اثارو او اغيزو سره د مقابلې لپاره د خپلو توليدو شويو شتمنيو پلورنې ته اړې شي د دغه شان پانګونو نتيجې څه ډول کيدای شي تحقق ومومي؟ د مثال په ډول: د پوهنې په برخه کې پانګونه د راتلونکې ودې د زمينې او لارې چارې په برابرولو او د بيوزلۍ په کمښت کې زيات اهميت لري، په همدې حال کې که چيرې ډېرې بيوزلې او زيانمنونکې کورنۍ د شوکونو له منفي آثارو سره د مقابلې لپاره ديته اړې شي چې خپل ماشومان له ښوونځي څخه وباسي، د بيوزلۍ د لمنځه وړلو په لور د روانيدو د پوهنې زيرې څه ډول عملي کيږي.

---

۶۲ وګورئ: هولزمن (۲۰۱۷)

## کتاب پیژندنه

Cincotta, R.P et al. (2003) د امنیت احصـــایوی شمیره: وګړی او تاوتریخوالی وروسته د سړی جګړی څخه، واشنګټن ډی سی: د وګړو د عمل نړیوال اداره

د احصـــایي مرکزي اداره(۲۰۱۶) "مهاجرت کابل، بامیان، دایکنډی، غور، کاپیســـا او د پروان ولایتونه "،د ټولنیزې جمعیت پیژندني او د اقتصا

دي رپوټ، د افغانستان د احصایي مرکزي اداره(۲۰۱۶).

" په افغانستان کې د ژوندانه د حالت ۲۰۱۳-۲۰۱۴ سروې"، د افغانستان د احصایي مرکزي اداره.

زیکا ام. و ک. کیس-کاتوس (۲۰۰۹) "کورنی جګړه او مهاجرت: په آچه کې په اجباري مهاجرت کې د کلي د کچې ټاکونکو عوامل"، د سولي د څیړنو ژورنال، ۴۶ (۳):۴۱۸-۳۹۹.

غرپادی، و ای؛ جاستینو، پی؛ مورتون، ام؛ پاپ، ال. بی؛ و ریدایلی اس (راتلونکی). په افغانستان کې د ریسک او نا امنی له خطر سره د مخامخو کورنیو تصمیمونه.

ایبانیز الف. م. (۲۰۱۴) "د اجباري ځای پر ځای کیدو وده: د احتمالي ټاکونکو عواملو په باره کې له هیواد څخه بهر، هیوادني او د کورنیو شواهد "، د روبرت ای. ب. لوکاس (مصححین)، د مهاجرت او د اقتصـادي انکشـاف په باب نړیواله جزوه، د ادوارد الګار خپروني. ۱۳ څپرکی.

ایبانیز الف. م. و الف. مویا، ۲۰۱۰" آیا شـــخړې د بیوزلی د له منځه تللو ســـبب کیږی؟ په کولمبیا کې د بی ځایه شـــویو کورنیو د شتنمیو له منځه تلل او بیا تر لاسه کیدل"،NBER څپرکي(فصـــلونه)، په: جرم اقتصـــــاد: د لاتیني امریکا لپاره د هغه درسونه، ۱۷۲-۱۳۷ مخونه، د اقتصادي تحقیقاتو ملي اداره.

جوســـتینو، پ. (۲۰۰۹) "له تاوتریخوالي څخه ډکه بیوزلي او شـــخړه: د جګړو د علتونو او موديې په باره کې د پوهې لرلید "، د سولي د تحقیقاتو ژورنال، ۴۶ (۳): ۳۱۵- ۳۳۳.

جوستینو پ. (۲۰۱۰) " جګړه او بیوزلي"، په ګارفینکل و اسکاپیرداس (مصححین)، د سولي او شخړې د اقتصاد په باب رساله ، د اکسفورډ پوهنتون خپروني، ۲۷ څپرکی(فصل) .

لونزانو-ګراســیا، ن، جی. پیراس او نور. (۲۰۱۰) " امنیت ته یو ســفر: په کولمبیا کې د جګړې له امله د رامنځته شــوي مهاجرت بهیر"، علمي مجلس International Regional Science Review، ۳۳ (۲): ۸۰-۱۵۷

د افغانســـتان د اسلامي جمهوریت د اقتصـــاد وزارت (۲۰۱۵) " د بیوزلۍ د حالت څیړنه او ارزونه" واشنګټن ډی سی. د نړیوال بانک ګروپ.

موریســون، الف. ر. و ر. ا می (۱۹۹۴) " له دهشــت څخه تیښــته: له انقلاب وروسته په ګواتیمالا کې تاوتریخوالی او مهاجرت"، Latin American Research Review, 29 (2):111-32

OCHA (2016) "Afghanistan 2016 HNO: Conflict Severity Index". Available at: https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/infographic/afghanistan-2016-hno-conflict-severity-index-january-september

اشمیت، اس. (۲۰۱۶) "په افغانستان کې د بیځایه شویو کسانو د معلوماتو تشریح: په تورتم کې د فیل پیژندنه "،د مهاجرت د پالیسی کارول، ۶ (۳): ۱۰-۱۶

شرپا، م. او نور (۲۰۱۶) " له لګښتي ورکړو پرته د بیوزلی اتکل: په افغانستان کې د بیوزلی په اټکل کې د SSI د تکنیک کارول "، د پالیسی د تحقیقاتو د سندونو لړی، نړیوال بانک، خپور شوی نه دی.

سیګار (۲۰۱۶) " د امریکا د متحده ایالاتو کنګري ته د ری میاشتنی رپوټ، (د افغانســــــــتان د بیا جوړولو لپاره د ځانګړي سر پلټونکي دفتر، د ۲۰۱۶ کال د جولای د میاشتي ۳۰

په افغانستان کې د ملګرو ملتو د سازمان دفتر(۲۰۱۶) " د تحرک جمعیت مجله "، ۷ ګڼه، د ۲۰۱۶ کال د نوامبر میاشت .

نړیوال بانک، د ملګرو ملتو د سازمان د پناه غوښتونکو عالی کمیشنری(۲۰۱۶) "په افغانستان کې د وګړو لړزنده توب او تحرک "، د بروکسل کنفرانس ته د برابری شوی پالیسی لنډ رپوټ. د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر میاشت.

نړیوال بانک (۲۰۱۶). د ټولنیزو، اقتصـــادي او سیاسي خدمتونو وړاندې کول او د تاوتریخوالي ډولونه، د ستونزو په وخت کې د پرمختګ بیانونکی.

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Economy

THE WORLD BANK
IBRD • IDA | WORLD BANK GROUP